شعر پېژندنه

# شعر پېژندنه

# بوطيقا

ژباړونکئ: معتصم شاهد

د ارسطو مشهور اثر چي بوطيقا نومېږي د نړۍ د مشهورو او منلو کتابونو د جملې څخه يو اثر دئ، ارسطو ۴ پېړۍ وړاندي تر مېلاده ليکلی او د ادب تيورۍ دپاره د مهمو او بنسټ اېښودونکو کتابونو څخه دئ، اوس يې په پښتو ژبه کي هم تاسو مطالعه کولای سئ په دې هيله چي مطالعه يې کړئ او د سمون دپاره يې غلطۍ راته په نښه کړئ تر سو وروسته يې اصلاح وکم.

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# توضېحات

**د کتاب لیکوال: ارسطو یا ارسطوطالیس**

**ژباړونکی: معتصم بالله شاهد**

**بیا کتنه: ریاض الله مالیار**

**د تماس او واټ ساپ شماره: ۰۷۷۳۶۹۱۶۹۵**

**د خپروني کال: ۲۰۲۲ـ ۷ـ ۲۲**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

ګران پلار مور او مېرمنې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتا ب الشعر ژباړه

کتاب الشعر، د شعر فن یا بوطیقا د شعر په اړه د ارسطو تر ټولو مهم او ارزښتناک اثر دی چې د یونان د مهمو میراثونو څخه شمېرل کېږي او د ډرامې او تیورۍ اړوند تر ټولو لرغونې یا هم لومړنۍ تر موږ رارسېدلې مقاله یا رساله ده، چې د شعر د شعر د منځ پانګې، جوړښت یا بڼو په اړه یې بحثونه رانغاړیاو د شاعرانو، د شعر مینوالو تر څنګ د تیاتر مسلک اړوند کسانو ته یې خورا ګټور بولم.

ارسطو په دې کتاب کي تر ډېره هڅه کړې ده چې تراژیدي راوپېژني، د جوړښ د جوړښت په اړه یې هم بحثونه لري او د منځپانګې په اړه هم ږغېدلی دی، خو د کومیډۍ په اړه ډېر لږ څه وایي، ځکه په دې اړه یې کوم بل اثر لیکلی دیاو څه چې تر موږ پوري رارسېدلی دی هغه هم دا اثر دی چې تر ډېره په تراژیدي غږېږي، حماسه هم شرحه کوي خو کمیډي ته یوازي اشاره کوي.

په دې کتاب کې هڅه شوې چې د شعر د مختلفو ډولونو د ښه شعر او لوړو شعرونو جوړښت او اجزاوو په اړه مفصل بحث وړاندي کي او د ښه شعر په اړه وایي چي ښه شعر تراژیدي ده نه هغه اثار چي کومیډي وي. همدا راز د ارسطو په زمانه کي شاعر یواځي هغه څوک نه و چي هغه دي قصیدې یا مدحي ووایي یا دي د چا بدۍ شعر کړي یا دي هم خپل احساسات د شعر په ژبه انځور کړي بلکي هغه وخت داستان یا ډرامه لیکونکي هم د شاعرانو په ډله کي شمېرل کېده.

که څه هم په هغه وخت کې نور علوم هم په نظم سره لیکل کېده خو ارسطو نظم او شعر سره بېلوي هغه وایي که تاریخ پوه کومه پېښه نظم کړي نو هغه ته شعر نه شو ویلای ځکه چي تاریخ پوه یواځې پېښه وړاندي کوي خو که شاعر یوه پېښه انځوروي نو هغه به یا د ضرورت پر اساس وي یا به پېښېدونکي واقعات

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصویروي. همدا راز شاعر ښيښي هغه ډول معريفي کوي څه ډول چي بايد وي خو تاريخ پوه هغه څه وايي چې پېښ شوي وي.

د ارسطو استاد افلاطون شاعر تقليد کوونکی باله او په خپل جمهوريت کي يې ورته ځای نه ورکاوه هغه په دې باور و چې شاعر له طبيته تقليد کوي او دا کار د د عقل د سستۍ لامل کېږي، خو ارسطو وايي چي شاعر طبيت په هغه ډول انځوروي لکه څه رنګه چې بايد و و اوسي او دا چاره عقلي فکر رابيدارو. بلخوا د وينا په اړه بحث کوي د مانا اړوند هم رغېږي، اسمونه هم راپېژني پر شاعر د نيوکو ځوابونه هم وايي او د مجاز پېژندنه هم وړاندي کوي.

دا اثر په عموم کي ټول موضوعات په ښه ډول سره رانغاړي چې زموږ ملګري نوماند پوهنيار معتصم بالله شاهد په ښکلې کندهارۍ لهجه په ساده او روانه ژبه ژباړلی ده او په کندهارۍ لهجه يې ځکه ژباړلی چي دا خپلي ژبي او لهجې دواړو ته کار وکړي ښاغلي شاهد دا اثر د عربي ژبي څخه پښتو ژبي ته ژباړلی ، که څه هم نوموړي ديني زده کړي او د مدرسې شاګرد پاته سوی خو ژباړه يې لکه د نورو ملايانو په څېر پېچلې نه ده بلکي ډېره ساده يې پښتو کړې ده چي چې هر ډول لوستونکی ترې اخذ کولای شي، زما يې هم ژباړه خوښه شوه او هم ډېر خوشحاله شوم چې نوموړي د ژباړي په برخه کې هم کار کولو ته متې را بډ وهلې، چې زه يې په نيک پال نيسم او پښتو ته ترې د لا ښّ خدمت هيلې لرم.

په همدې هيله

رياض الله ماليار

ننګرهار خوړيانۍ۱۴۰۱ــ چنګاښ ــ ۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ارسطو او دهغه د کتاب الشعر پېژندنه

ارسطو یا ارسطوطالیس په ۳۴۸ ق م د تراقیا د ستاجیرا په ښار کي د نیقوماخوس په کور زېږېدلی دئ، چي اوس دغه ښار د ستورو په نامه شهرت لري او د یوناني جزېرې په شمال کي پروت دئ. ارسطو د خپل ژوند لومړني کلونه د یونان په پلازمېنه بیللا ښار کي تېر کړی ځکه چي د ارسطو پلار د د مقدونیې د باچا دویم امینتاس ځانګړی طبیب او ډاکټر وو کله چي ارسطو د ۱۸کالو سو نو و اثینا ته یې کوچ وکړ او د اکاډمۍ سره یو ځای سو او له خپل لمړني معلم افلاطون څخه یې زده کړي شروع کړي او وروسته یې د یونان ډېرو ښارونو ته سفر کړی دئ. ارسطو ډېر زیات کتابونه لیکلي چي یو له هغو کتابونو څخه د کتاب الشعر یا بوطیقا، پیوټیک دئ چي همدا اثر دئ.

پیوټیک چي د ارسطو یو له مهمو اثارو څخه دی، بحث یې د شعر او شعر لیکلو اړوند دئ، دا کتاب ۲٦ شپږویشت فصلونه لري او هر فصل یې د شعر، تراژیدي او ډرامې سره د ترلو موضوعاتو اړوند دئ. اول فصل د تمثیل کیسه کولو اړوند دئ دویم فصل د شعر د ډولونو د بېلوالي او د هغوی د موضوعاتو د بېلوالي دپاره ځانګړی سوی دئ. دغه راز په تراژیدي کي کوم موضوعات راوړل کېږي، ډرامه کي باید موضوع څه وي او داسي نور. دریم فصل، په شعر کي څه ډول داستان او کیسه وکړو. څلورم فصل، د تراژیدي منشا، خاکه یا هم سوژه ده. پنځم فصل، کومیډي، تراژیدي او حماسې ته ځانګړی سوی دئ. شپږم فصل، تراژیدي، د تراژیدي تعریف او د تراژیدي ترکیبوونکي برخي دي، چي پرسوناژ ژبه یې فکر دي. اووم فصل، حماسي. همداسي نور فصلونه هم د شعر او تراژیدي او د شعر د بېلابېلو ډولولونو او خصوصیاتو اړوند دي.

دغه کتاب درې ځله په پښتو ژبه کي ژباړل سوی چي د لمړي ځل دپاره مولوي اسراییل و پښتو ژبي ته ژباړلی چي دغه اثر زموږ په لاس کي نسته دویم ځل دپاره قلندر مومند د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحقیق سره یو ځای ژباړلی دئ دریم دپاره صلاح صیب پښتو ته ژباړلی دئ چي دغه کتاب یو ځلي تر نظر تېر سوی دئ.

کله مي چي دا کتاب ژباړلی نو ما دغي نوي ژباړي ته لاس رسی نه درلودلئ او د دې تر څنگ که یو کتاب بېلابېل لیکوال یوې ژبي ته وژباړي نو دا د دې ژبي په غنا کي مثبت رول درلودلای سي.

د دې لوی لیکوال د دې دروند اثر په ژباړه کي ما د درو کتابونو چي په دوه په عربي او یو یې په پارسي ژبه دئ چي د دې درو ژباړو څخه ما خپله ژباړه مکمله کړه او کوښښ مي وکئ چي د ژباړي مفهوم څه ډول چي په دې درو کتابونو کي توافق کولی تر تاسو در ورسوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شعر په اړه

**د شعر او هنر دپاره موضوع:** زموږ بحث د شعر، د شعر د ډولونو او دا چې څه ډول خاصیت یا ځانګړتیاوې لري؟ په باب دي او افسانه چې د شعر مضمون ( میتوس ) جوړوي باید څه ډول اوډل سي تر څو ښه شعر ور څخه جوړ سي او وروسته یې د څومره والي او څرنګ والي بحث دی، یعنې څومره او څرنګه شعر ولیکل سي او نور هغه موضوعات چې د دې بحث سره اړیکه لري، هم زما د بحث موضوع ده. دغه راز هڅه به کوم چې د موضوع طبعي ترتیب مراعات کم تر څو هغه بحث چې باید مخکي وسي، مخکي راوړم.

**په شعر کي تقلید او د تمثیل وسایل:** حماسه، تراژېدي،کومیډي او د خدایانو سندري او همداسي هغه سندري چې د رباب او د نی وهلو لپاره لیکل کېږي دا په ټوله کي کیسه کول او تقلید دئ، خو بیاهم له درو اړخونو څخه یو له بل څخه بېل دي ځکه چې د تقلید او کیسې ویلو وسایل، موضوع او طریقه له یو بله بېل او جلا دي.

بعضي خلګ د عادت په ډول یا د کسب په طریقه  بعضي شیان د رنګونو او نقشونو په طریقې سره تصوېروي او دغه تصوېر ته تمثېل یا محاکات ورکوي، خو بغضې خلګ یې بیا د اوازونو په طریقه تمثیلوي چې په ذکر سوو هنرونو کي هم همدا موضوع ده، نو ټول دغه  هنرونه په ایقاع یا حرکتونو، کلام او آهنګ سره تمثیل او محاکات کوي. دغه ټول وسایل کله ټول سره را جمعه کېږي او کله بیا یو د بل څخه جلا کېږي لکه په رباب وهلو یا نل ږغولو کي چې یواځې د ایقاع  (حرکاتو) او له آهنګ څخه په تمثیل کي کار اخستل کېږي او رقص بیا یواځې ایقاع یعني حرکتونه دي چې آهنګ  پکښې کوم رول نه لري، نو دا چې په رقص کي اوازونه کوم رول نه لري نو رقاص کوښښ کوي چې طبعي پېښې د حرکتونو په واسطه سره تمثیل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د فنونو د نوم اېښوني سببونه:** هغه هنر چي د ږغونو په واسطه سره پېښي تمثيلوي هغه که نثر وي که شعر او دغه شعر که مرکب شعر وي يا نا مرکب، تر ننني ورځي پوري کوم خاص نوم نه لري او يو داسي مشترک نوم نسته چي د سوفرون او اکسنارک د دواړو و تمثيل ته او هم د سقراط مکالماتو ته يو ډول وکارول سي، او هغه شعرونه چي د ثلاثي په وزن کي ويل کېږي او هغه شعرونه چي په مرثيه کي راغلي دي يو ډول وي او يو نوم ورته وکارول سي.

مگر د خلگو عادت پر دې راغلی دئ چي د موزون کلام او شعر تر منځ يو ډول اتحاد کوي تر دې حده چي بعضي پوهان د هم دې فکر له کبله بعضي شاعرانو ته مرثيه ويونکي او بعضو شاعرانو ته حماسه ويونکي شاعران وايي .

مگر د خلگو عقيده پر دې جوړه ده چي دوی د شعر او د وزن تر منځ نېژدې والی ښيي او بعضي ليکونکو ته يواځي په دې خاطر شاعر وايي چي هغه په خپل کلام کي وزن مراعات کړی دئ او کوم څوک چي په طبعي علومو يا طب کي کومه مقوله منظومه کوي نو ورته شاعر وايي او معلومه خبره دا ده چي د هوميرس او امبدوکليس يواځيني شريک ټکی د وزن دئ ځکه نو موږ بايد لمړنی کس چي هومرس دئ شاعر او دويم د طبعي علومو عالم وبولو، که کوم څوک يو عمل د تمثيل په ډول بيان کړي او په هغه کي وزنونه گډ کړي لکه دا کار چي خارتمون د کنتروس په منظومه کي کړی دئ او د شعر اوزانو درانه رنگونه يې ورکړي دي نو حتمي ده چي دغه کس ته به شاعر ويل کېږي.

نو ځکه لازمي ده چي د دغو امورو تر منځ پولي وټاکل سي چي دغه پولي به هنرونه يو د بل څخه بېل کي ، لکه د فنونو څخه يو هغه دي چي ټول پورته ذکر سوي مواد ( حرکات، لحن او وزن ) ټول په کار گماري لکه د خدايانو سندري او همداسي تراژيدي او کوميډي خو د دوی تر منځ بيا توپير په دې کي دئ چي لمړنی ډول يې چي د خدايانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندري دي په ټول وخت کي پورته درې سره موارد په کار اچوي  او بعضي بيا د دې درو څخه يو يا دوه په کار اچوي چي دغه د تمثيل په واسطه د دوی توپير ښيي.

د تمثيل ډولونه : کوم څوک چي تمثيل کوي د دوی کار د يو چا ستاينه يا صفت کول دي او دغه د ضرورت له مخي يا ښه خلګ دي او يا بد، خو اصلا په واقعيت کي اخلاق دغه دوه ډوله دي چي د خلګو تر منځ توپير هم په دې کي دئ چي يا به ښه وي يا بد. هغه کسان چي شاعران يې يادوي يا د حيثيت له مخي يې ډېر لوړ معرفي کوي ياهم تر هغه چي دوی کوم ډول دي، له هغې يې ډېر بد معرفي کوي يا يې هم په منځني ډول معرفي کوي او په دې توصيف کي زيات نقش د همدې شاعرانو دئ. همداسي د مصور حال هم دئ ځکه  بولي ګنوتس خلګ داسي تصويروي چي هغه تر عادي حالته ډېر لوړ وي  او باوزون بيا خلګ دونه ټيټ او سپک انځوروي چي په عادي حالت کي داسي نه دي او ديونيسيوس بيا انځورونه داسي ښيي لکه عادي حالت کي چي دي.

د پورته خبرو څه داسي ښکاره کېږي چي د فنونو هر ډول خپل ځان لره د تمثيل ښوولو طريقه لري او دغه طريقه په هر ډول کي بېله او جلا ده او فنون په همدې د تمثيل په بيلو طريقو سره بېل بېل ډولونه ويشل کېږي او موضوعات يې بېلېږي او عين دغه اختلاف لکه په ژبه ( نثر او نظم )  کي چي دئ،  همداسي يې په رقص، د رباب په موسيقي او نل کي هم وينو.

نو هومير د مثال په ډول خپل د حماسې انسانان تر عادي ژوند ډېر لوړ انځوروي او کلوفون يې داسي انځوروي لکه په عادي ژوند کي چي دي او هګمون چي د يونان د ساموس دئ  او د يونان د لومړنيو مسيقي ږغوونکو څخه دئ او دغه راز نيکوخارس چي د الياد د منظوموو سازنده  دئ، دوی انسانان تر عادي ژوند بتر معرفي کوي او دغه اختلاف په ديتي رامب او نوموس ( خدايانو سندري ) کي هم سته او کله بيا په دغو دوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

طريقو سره اشخاص او افراد داسي تصوير سي لكه چي تيموتي او كلوفكسن په سكلوف كي  چي كړي دي.

نو په همدې اختلاف چي څوک انسان تر عادي حالت زيات ښه او څوک يې تر عادي حالت ډېر بد تمثيلوي د تراژدي او كميډي تر منځ فرق راغلى دئ. تراژدي انسان تر خپل حالت زيات ښه تمثيلوي او كوميډي انسان تر هغه چي دئ زيات بد تمثيلوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په شعر کي د تمثيل طريقه

دلته تل دريمه ډله پوهان شتون لري چي د فنونو تر منځ توپير د تمثيل يا انځور گرۍ د موضوع په خاطر کوي، يعني چي په شعر کي څه شی انځور سوی دئ، ځکه چي شاعر يوه موضوع په يو ډول وسايلو سره تمثيلوي.

١ــ نو ممکنه ده چي شاعر د روايت يا نقل کيسه په داسي ډول تمثيل کړي لکه هومر چي د بل روايت کوونکي د خولې څخه نقل کوي.

٢:ــ او کله شاعر د شعر کيسه د خپلي خولې څخه وايي.

٣:ــ او ممکنه ده چي د داستان ټول کرکټرونه دي د حرکت او عمل په ډول تمثيل سي نه د حکايت او کيسې په ډول.

له دغه ځايه تاسو ته هغه درې اساسي ټکي در پېژنو چي د فنونو ويشونکي ټکي دي لکه څنگه چي موږ په لمړي فصل کي يادونه کړې ده او دغه درې اساسي توکي دا دي:

١:ــ ماده

٢:ــ د تمثيل موضوع

٣:ــ د تمثيل طريقه يا ډول

**د ډرامې مفهوم**

د پورته څرگندونو څخه وايو چي سوفوکليس د يوه اړخه د هومر غوندي کرکټرونه تر عادي ژوند ښه معرفي کوي او د بله اړخه د ارسطوفان غوندي کيسه کوي ځکه دوی دواړه د داسي اشخاصو کيسه بيانوي چي د کړنو په کولو بخت دي او کرکټرونه خپله په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حرکت کي دي نو ځکه هغه نظمونه چي کرکټر پکښي په اکټ مصروف وي د ډرامي نوم ورکوو.

بعضي د بهمين په خبره خپلو اثارو ته ډرامه وايي ځکه دوی په خپلو اثارو کي داسي کرکټرونه استعمال کړي دي چي هغه په اکټ يا د عمل په حالت کي دي د دغي وجهي څخه د دوربان قوم د دې دعوه کوي چي تراژدي او کوميډي د دوی ايجاد دئ او دوی يې منځ ته راوړونکي دي خو د مگاربان قوم کوميډي و خپل ځان ته نسبت کوي. دغه قوم چي په يونان کي ژوند کوي دا دعوه هم کوي چي ډرامه د هغه وخت ايجاد دئ چي د يونان حکومت د دوی په لاس کي وو او د دوی د حکومت په دوران کي منځ ته راغلې ده.

همداسي يوه ډله ميگاربان چي د سيسيل په  جزيره کي اوسېږي هم دا دعوه کوي چي ډرامه د دوی ايجاد دئ او دعوه لري چي ايخامورس ( چي تر خيونيدس او ماگنس ډېر مخکي يې ژوند کړی دئ ) د دوی له قبيلې څخه وو.

د تراژيدي د ايجاد دعوه بعضي دوريون هم لري. دوی په بيلوبينيز کي ژوند کاوه او د دې دليل په استدلال چي د کوميډي ريښه د دوی په ژبه کي کوچني کلي ته وايي او کله چي دوی د ښارونو څخه و شړل سول نو دوی په لري پرتو سيمو کي په کوچني کوچني کليو کي اباد سول او دغو خلگو کوميډي منځ ته راوړل چي هم دوی د کوميډي بنسټ ايښوونکي دي په داسي حال کي چي آتک قوم چي اوس ورته د دموس کلمه هم استعماليږي دعوه لري چي ډراما د دغه دموس د کلمې څخه منځ ته راغلې ده دغه قوم دعوه کوي چي د کوميډيان لفظ د دوی د ژبي د کومازيين د کلمې څخه رامنځ ته سوی دئ چي د کوچني کلي مانا ورکوي چي پورته ذکر سوی سبب يې د تسميې دئ چې دوی له خپلو ځايونو څخه و شړل سوه او په يو کوچني کلي کي اباد سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی همداسي دعوه کوي چي د اکټ کلمه هم د دوی د ژبي څخه اخستل سوې ده چي د دوی په خپله ژبه کي د عمل دپاره د دران  کلمه استعمالوي چي ډرامه د همدغه دران څخه اخستل سوې ده په داسي حال کي چي د اثینا خلګ اکټ ته د براتین کلمه کاروي.

او دومره قدر پوهه چې د فنونو د جلا والي لپاره چي یو د بل څخه د تقلید او تمثیل په برخه کي  بیل سي بسنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شعر او تراژیدي منشا

**د شعر اصل:** په عام ډول سره په انساني طبيت کي شعر د دوو اساسي ټکو څخه را منځ ته کېږي چي دغه دوه د شعر د ایجاد لامل کېږي:

۱:ــ فطري تمثیل چي دا د ماشومتوب څخه د انسان سره ملگری دئ او د همدې تمثیل په سبب سره د نورو حیواناتو څخه بېلیږي او د همدې تمثیل په واسطه سره انسان خپله لومړنۍ زده کړه تر سره کوي او له نورو انسانانو څه په تقلید یو څه زده کوي.

۲:ـ انسان هغه موجود دئ چي د تقلید څخه خوند اخلي او د دې ثبوت دا دئ چي په حقیقي دنیا کي داسي موجودات سته چي انسان د هغو څځه ناراحته کېږي که چیري هغه ښه تمثیل سي نو د هغه د تمثیل څخه انسان خوند اخلي لکه د مردارخورو حیوانانو انځورونه چي د انسانانو د خوند اخستلو سبب کیږي.

بل دلیل دادئ چي انسان د زده کړي او ور زده کولو څخه خوند اخلي دغه خوند اخستل یواځي د علماوو او فلاسفوو خاصیت نه دئ بلکي عوام خلگ هم د همدې څخه خوند اخلي هر څونه خوند چي زده کوونکی له زده کړي څخه اخلي هغه لږ او کم دئ نو ځکه هغه تصویرونه څومره چي د اصلي تصویر سره ورته وي د کتونکي د خوښۍ او خوند اخستلو سبب گرځي ځکه د دغه تصویرونو په لیدلو سره د اصلي شي د پېژندني او معرفت سره انسان یو ځای کېږي او هغه څه چي تصویر یې راته وایي ژر په پوهېږو لکه یو تصویر چي موږ ووینو مخکي تر دې چي څوک یې راته تشریح کي چي دا د پلاني شي تصوېر دئ موږ باید دا د تصویر څخه زده کړو ،دا په دې خاطر نه چي تصویر دا هر څه تشرېح کوي بلکي د هغه د صنعت دکمال په زور سره چي په تصویر کي ابښودل سوی دئ موږ په هر څه باید پوه سو یا د هغو ښکلو رنگونو څخه چي په تصویر کي کار سوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي انسان خوند اخلي يا د هغو ورته اړخونو څخه چي د اصلي شي سره يې ورته والی ډېر وي زموږ د خوشحالۍ سبب گرځي.

نو څرنگه چي د تمثيل او انځور گرۍ غريزه په موږ کي تبعي ده همداسي د ښه بږغ ذوق او ايقاع يعني حرکتونو غريزه  زموږ په وجود کي طبعي پرته ده  پر دې سر بېره دا معلومه ده چي وزن د ايقاع برخه نه ده  خو همدا موزون والی د حرکاتو څخه را منځ ته کېږي، نو له کوچني والي څخه کومو کسانو چي خلاق ذهن درلودئ کرار کرار په تقليد او تمثيل کي مخ ته ولاړه او په  بيديهيه يې شروع وکړه وروسته يې ورو په شعر ويلو پيل وکړ.

وروسته يې بيا شعر د خپل فکر مطابق جوړ کئ هغه چا چي لوړ فکر درلودئ لوړ کردارونه يې را واخستل او  د لويو خلگو ستاينه يې وکړه او کومو خلگو چي طبعه يې ټيټه وه نو دوی پر همدې فکر پاته سوه او دوی د ټيټو خلگو بد ويل شروع کړه او هجويات يې منځ ته راوړه او هغه لمړنيو په مدحو ويلو سره خپلو شعرونو ته رنگ ورکئ.

د هغو شاعرانو څخه چي تر هومر مخکي وه کوم شعر په لاس کي نه لرم هر څو که وويل سي چي تر هومر مخکي شعر شتون درلودلئ خو موږ صرف هغه شعرونه لرو چي تر هومر وروسته پر هغه پخوانۍ طريقه ويل سوي دي او ډېر لږ دي لکه د گيتس په نامه چي يوه ټوټه شعر لرو د هغو پخوانيو شعرونو د ډولونو څخه دئ چي پکښي د موضوع په توافق وزن مخته وړل سوی دئ چي دغه وزن د ايامبو په نامه سره يادېږي او دغه ډول شعرونو ته تر اوسه پوري ايامبيک شعرونه ويل کېږي چي د هجوي ويلو دپاره به استعمالېده او د يو چا بد به پکښي بيانېدل. نو له دې ځايه موږ دا خبره اخلو چي پخوانيو شاعرانو په دوه وزنونو کي شاعري کوله چي يو يې پهلواني اوزان وه او بعضو شاعرانو په ايامبيک وزن کي شعرونه ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هومر یو د قوي او لویو شاعرانو څخه دئ او نه یواځې دا چې د ښه شاعرانو په سر کې دئ بلکې د ښې ډرامې منځ ته راوړونکی هم دئ، دی پر نورو شاعرانو زیاته بهتري لري او لمړنی کس دئ چې شاعرانو ته یې د کومیډې طریقه ور زده کړه او هغه رشخندونه چې شاعرانو به د شعر په ډول ویله ده د ډرامې په شکل راوړل ځکه د هومر هغه برخه شعرونه چې د مرگیتس په نامه سره و هومر ته منسوب دي په کومیډې کې داسې ځای لري لکه الیاد او اودیسه چې په تراژیدې کې ځای لري.

هر کله چې کومیډې او تراژیدي منځ ته راغلې نو لیکوالانو د خپل ذوق مطابق انتخاب وکئ نو هغه شاعرانو چې به د ایامبیک وزنونو پیروي کوله و کومیډې ته مخه کړه او چا چې پهلواني وزنونه تعقیبول هغوی د تراژیدي طرف ته مخه کړه ځکه دغه نوي منځ ته راغلي فورمونه تر هغه پخوانیو لوړ او اعلی وه.

بحث په دې کې دئ چې ایا تراژیدي د کمال حد ته رسېدلې ده که نه ده او په دې برخه کې تحقیق هم خپله یوه بله موضوع ده دا چې تراژیدي په اصل کې د بدیهه ویلو څخه منځ ته راغلې ده  لکه کومیډي چې د همدې بدیهه ویلو څخه منځ ته راغلې ده لکه دیتي رامب ( د خدایانو سندري )  شعرونه چې د شعرونو لومړی شکل دئ وروسته فالیک ترانې منځ ته راغلي دي چې اوس هم په بعضي ښارونو کې سته او ویل کېږي وروسته تراژدي کرار کرار د خپلو خاصو اجزاوو سره پراختیا وموندله او ورو ورو یې تغیر وکئ او خپل نهایي شکل یې اختیار کئ چې اوس پر همدې حال پاتي ده.

اشیل لمړنی لیکوال دئ چې د کرکټرونو شمېر یې له یو څخه دوو ته پورته کئ او همداسي د دوو کسانو ډیالوگ یې پکښې ځای پر ځای کئ وروسته سوفوکلس د اکټرانو شمېر درو ته پورته کئ او په ډرامه کې یې د نمایش رول را منځ ته کئ او صحنې یې نقاشي کړې. وروسته هغه کوچنی کیسې او افسانې چې په یونان کې مشهورې وې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تراژیدي کي را ښکاره سوې. هغه کیسو لړ څه توضیح پیدا کړې وه او ژبه یې هم لطیفه او شوخه سوه او هغه مضامین چي په ساتیریک ( یو ډول شعرونه دي ) کي د پخوا څخه په کار وړل کېده پرېښول سوه او وروسته یې خپل وقار او جلال پیدا کئ.

د وزن له مخي د څلور گوني وزن تروکاییک پر ځای ثلاثي وزن ایامبیک وزن عام سو په لومړییو کي رباعي وزن ځکه عام وو چي ساتیریک ته ورته او رقص ته نیژدې وو او کله چي مکالمې پکښي ځای سوې نو شاعرانو د خپل ځان دپاره داسي وزن وکتلی چي په هغه کي د مکالمو د ځای پر ځای کېدو گونجایش وو او هغه ثلاثي وزن وو چي پکښي مکالمات په ښه توگه ځای پر ځای کېدل، د دې دلیل دا دئ چي په عادي محاورو کي د مکالمې دپاره د ثلاثي وزن یا ایامبي وزن څخه استفاده کېږي د دې سره چي سداسي وزن هم کله کله استعمالېږي هغه هم هغه وخت چي د مکالمې څخه خارج سي.

همداسي هغه حوادثو او اجزاوو چي په تراژیدي کي یې ښکلا پیدا کوله ورو ورو زیاتوالی پیدا کئ.

په دې برخه کي باید په همدومره بسنه وکو ځکه چي هر بحث یې خورا اوږد بحث دئ چي د زیات اوږدوالي سبب نه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کوميډي، تراژيدي او حماسه

لکه څه رنګه چي مي وويل چي کوميډي د داسو ښپښو تمثيل دئ چي د ټيټو اخلاقو يعني تر عادي ژوند د کښته او بد تر ژوند تصويروي. د ټيټ ژوند تمثيل څخه مطلب هر ډول بدوالی او رزالت نه دئ ځکه دلته مطلب هغه معلوم ډول دئ چي ژوند داسي ټيټ معرفي کي ترڅو د خندا سبب وګرځي او دا تمثيل د فونونو يو ډول بلل کېږی. دغه راز داسي يې هم تعريفولای سو هغه فن چي د خندا سبب کېږي او يو شی يا يو شخص ټيټ تمثيلېوي په دې خاطر چي په هغه شي کي يو ډول کمی دئ او داسي تمثيل چي نورو ته د تکليف او اذيت سبب نه سي لکه څه رنګه چي د کوميډي اکټران د شوخۍ او خندا دپاره پر خپلو څهرو ناچيزه او بدرنګه نقابونه را ځړوي خو د ننداري په وخت کي د چا تکليف سبب نه کېږي.

هغه تغيرونه چي په تراژيدي کي رامنځ ته سوي او هغه ليکوالان چي تراژيدۍ يې ليکلي دي راته معلوم دي مګر کوميډي په دې خاطر چي ډېره د قدر وړ نه ده او کومه توجه ور ته نه ده سوې ماته يې هم پوره مالومات نسته او د کوميډۍ ډېر اړخونه را څخه پټ دي او کوميډۍ ته دغه نه توجه په دې خاطر ده چي آرخونانو يا قاضيانو تر دې وروستيو پوري کوميډي ته کومه خاصه ډله نه ده معرفي کړې او تر دې مخکي هم د کوميډۍ دپاره لوبېدل په داوطلبانه ډول وو. له هغه وخت څخه چي کوميډي ځانګړی شکل خپل کئ نو يو څو شاعران چي کوميډي ليکنه يې کوله د عامو خلګو په منځ کي يې نوم خوله په خوله سو.

اوس هم نه پوهېږم چي دغه د نقابونو اغوستل، مکالمې د اکټرانو شمېر زياتوالی چا په کوميډي کي را منځ ته کړی دئ تر دې زيات چي کوميډي افساني په لومړي سر کي پورميس يا ابي کارم را منځ ته کړي دي ، د کوميډي فکر د لومړي ځل دپاره په سيسل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي منځ ته راغلی. په آتن کي کراتس لمړنی سړی وو چي د اپیک وزن شعر یې پرېښودو او د عمومي موضوعاتو او کیسو د لیکلو په تکل کي سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تراژيدي او حماسي مقايسه

د حماسې اړيکي د تراژيدي سره يواځې په دې کي دي چي حماسه او تراژيدي دواړي انساني ژوند داسي تمثيل دئ چي تر هغه چي انساني ژوند دئ ښه او غوره يې معرفي کوي مگر د تراژيدي سره يې توپير په دې کي دئ چي حماسه تر پايه يو ډول وزن تعقيبوي او د بيان طريقه يې هم د تراژيدي څخه بېله ده، يعنی د حماسي د بيان طريقه نقل او روايت مگر د تراژيدي د بيان طريقه فعل و عمل دئ ، همداسي يې د وخت د اوږدوالي له مخي هم له يو د بل سره توپير لري تراژيدي د لمر د يوه گردش په اندازه وخت يا تر دې لږ ډېر په خپله لمن کي را نغاړي  مگر د حماسې وخت محدود نه دئ نو د دغو وجو په په خاطر يو د بل سره توپير لري که څه هم په پيل کي نه تراژيډي په وخت سره مقيد وه نه حماسه مگر هغه اجزا چي دغه دوه لوی فنون ور څخه جوړ سوې دي يو په بل کي مشترک اجزا لري او بعضي داسي اجزا دي چي په تراژيدي پوري خاص دي لکه په تراژيدي کي ځوک کولای سي د ښو او بدو تر منځ فرق وکي په حماسه کي هم دغه فرق کولای سي  څنگه چي هغه اجزا چي په حماسه کي دي هغه په تراژيدي کي هم سته په داسي حال کي چي تراژيدي داسي اجزا هم لري چي حماسه کي نسته.

### د تراژيدي تعريف

تقليد او تمثيل مو  په وزن سداسي کي معرفي کئ او تر څنگ مو يې کوميډي هم تشريح کړه تر دې وروسته د تراژيدی بحث ته راځو چي د تراژيدی اصل او ماهيت د هغه څه څخه چي مخکي مو وويل راوباسو نو تراژيدي  د پېښو او اشخاصو په داسي الفاظو سره چي په بېلابېلو ښايستونو ښايسته سوي وي  داسي تمثيل دئ چي معلومه اندازه اوږدوالی ولري او دغه تمثيل او تقليد د اشخاصو د کردار په واسطه سره تر سره او تکميل کېږي نه دا چي پېښي يواځي او يواځي د نقل په ډول پای ومومي، شفقت او وېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

به خپروي تر څو د نفس د تزکيې او پاکۍ سبب سي چي د انسان نفس د دغو پېښو څخه عاطفي کېږي او تاثير اخلي. او د ښايستونو څخه چي وينا ته ښکلا ورکوي مخصد هغه خبري دي چي ايقاع آهنگ او اواز پکښي وي او هغه ښايستونه دي چي د اجزاوو د اختلافه منځ ته راځي چي بعضي برخي به د وزن په واسطه ښکلي سوي وي او بعضي نوري به د اواز په واسطه سره ښايسته سوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تراژيدي شپږ برخي يا اجزا

څه رنګه چي د تراژيدۍ تمثيل د اکټرانو يا د اشخاصو په وسېلې، چي تراژيدي نمايش ته ورکوي، منځ ته راځي نه د داستان ويلو او نقل قول په واسطه، نو د ضرورت له مخي ويلای سو چي د تراژيدي برخي عبارت دي له:نمايش، منظره، ترتيب ـ اواز ـ وينا، او دغه پورته موارد هغه موارد دي چي په دوی سره تمثيل مکمل کېږي، د اواز څه مي مقصد د کلمو اوډون دئ چي د کلماتو وزن را نغاړي او د وينا څخه مقصد بيا د هغه ترتيب سوي کلمي دي او د هغو ښکاره کول دي، له بله طرف تراژيدي تمثيل او تقليد د هغه کردار دئ چي په هغی کار او کردار کي د اشخاصو وجود لازمي دئ او دغه اشخاص دغه کردار مخته يوسي او طبعي خبره دا ده چي دغه اشخاص د خپل ځانګړي خوی خاصيت او فکر خاوندان دي او طبعي خبره هم همدا ده چي انسانان د همدې فکر خوی او خصلت په واسطه يو د بل څخه بېلېږي او په دنيا کي دوه شيان دي چي اشخاص يو د بل څخه بېلوې چي يو يې فکر او دويم يې خوی او خصلت دئ چي هم دغه کردارونه دي چي د انسان د کاميابۍ او ناکامۍ سبب ګرځي مګر د يوې کړني تمثيل او تقليد هم دغه افسانه ده ځکه زموږ مقصد دافسانې څخه هم دغه کردارونه دي چي تر سره کېږي او د خوی او خصلت څخه مو مراد هغه امور او کړني دي چي کله اشخاص ووينو بيا دوی د هغه صفت نسبت کوو او له فکره څه مقصد ټول هغه څېزونه دي چي اشخاص يې په داستان کي د کولو کوښښ کوي.

نو د ضرورت د مخي ويلی سو چي په تراژيدي کي شپږ شيان ضرور او لازم دي چي بېله هغه تراژيدي نه سي مکمله کېدلای او کله چي دغه شپږ شيان ترتيب او ترکيب سي نو تراژيدي را منځ ته کوي او د غه شپږ شيان:

۱:ـ د افسانې مضمون

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲:ـ سیرت

۳:ـ وینا

۴:ــ فکر

۵:ـ منظر کشي

٦:ــ اواز

د تراژیدۍ اجزا دغه شپږ بلل په دې دلیل دي چي د تمثیل او تقلید وسایل د دغو شپږو څخه دوه دي او د تمثیل او تقلید د تراژیدي یو جز دئ او درې پاته یې د تقلید او تمثیل د موضوع اجزا دي چي شپږ سول او بل کوم جز وجود نه لري او ټول شاعران هم دغه شپږ جزه په کار وړي ځکه چي ټولي تراژیدۍ یو ډول د منظر کشۍ، خوی او خصلت افسانې یا کیسې، وینا، فکر او اواز لرونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په افسانه کي کردارونه

د تراژيدۍ مهمه برخه کردارونه دي چي دغه کردارونه تراژيدۍ ته سکښت ورکوي ځکه چي تراژيدي د انسانانو تقليد يا تمثيل نه دئ بلکی د انسانانو د ژوند د نيک بختۍ او بد بختۍ تقليد او تمثيل دئ چي نيک بختي او بد بختي دواړه د انسانانو د کړو نتيجه ده چي انسانان د همدې په سبب د همدې خصلت او خوی په سبب انسانان بلل کېږي مگر بدبختي او نيک بختي چي انسانان يې د خپلو کړنو په واسطه ځان ته راولي نو بنا پر دې هغه اشخاص چي په صحنه کي لوبېږي او نمايش کوي د دوی مقصد د داستان د اکټرانو تقليد او تمثيل نه دئ بلکي دوی خپله په همدې صفتونو سره يادېږي يا په بل عبارت کوم څه چي د دوی سره کېږي هغه د دوی د کړنو او کردارونو نتيجه ده کوم څه چي په کيسه کي مقصد دئ هغه د افسانې مضمون دئ او په ټوله کي کړني او پېښي د همدې مضمون دپآره منځ ته راځي.

د پورته خبرو څخه معلومېږي چي تراژيدي بېله کردارونو منځ ته نه سي راتللی مگر بېله خوی او خصلته تراژيدي جوړېدای سي لکه په دې وروستيو کي چي بعضي شاعرانو تراژيدياني ليکلي او هيڅ خوی او خصلت ته يې توجه پکښي نه ده کړې په هر صورت د اوسنيو شاعرانو تراژيدي پر داسي حال دي لکه د نقاشانو په منځ کي چي زيوکسس نسبت و پولي گنوت ته دئ څه رنگه چي پولي گنوت يو داسي نقاش دئ چي په نقاشۍ کي د خصلت او سيرت د ترسيم مهارت لري او زيوکسس يې پر خلاف داسي رسام دئ چي تصوير يې د هر ډول خصلت او سيرته خالي دئ.

که چيري کوم څوک د چا د اخلاقو څخه کيسه په عالي او ممتاز شکل سره کوي نو پوی سه چي مراد يې تراژيدي ده چي ورته مکمله تراژيدي نه سو ويلی بلکي د تراژدي مفهوم او مقصود دخپل ځان سره په يو داسي عبارت لېږدوي چي د فکر او حيثيت له مخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه یوه ضعیفه تراژیدي، چي د افسانې، مضمون او کرکټرونو لرونکي ده، لېږدوي. تر دې ور ها خوا د تراژیدي خوند د افسانې او داستان په اجزاوو کي دئ چي تغیر او پېژندنه منځ ته راوړي .

د دې دلیل، چي افسانه او واقعه پر خصلت او سیرت انځورولو دمخه ده، دا دئ چي تر دې مخکي چي د دوی د کړنو پر ترتیب مهارت پیدا کوې، د خصلت او سیرت توصیف زده کوي لکه څه رنګه چي دغه حالت د لمړنیو زیاتو شاعرانو دئ.

نو لومړنۍ مبدا د تراژیدي افسانه او واقعه ده چي د اهمیت له مخي تر خصلت او سیرت ارزښتمنه او مخکي ده او خصلت او سیرت نسبت کیسې ته په دویمه کټګورۍ کي دي په نقاشۍ کي هم همداسي کیسه ده چي د هغه نقاش کار چي ښایسته رنګونه یې سره راټول کړي او جوړ کړي وي خو د نقاشۍ دپاره کومه طرحه نه لري تر هغه ډېر ټیټ دئ چي رنګونه یې نه وي جوړ کړي، خو یوه طرحه د نقاشۍ دپاره لري نو ځکه ویلای سو چي تراژیدي د کړونو او کردارونو تمثیل دئ، نو په دې عبارت تمثیل او تقلید د کردارونو او کړونو مجموعه ده او تر څنګ یې هغه کسان چي دغه کړني او کردارونه تر سره کوي.

**فکر**

فکر، چي د تراژیدي دریم مهم جز دئ، د بیان او تعبیر قدرت دئ چي د حال او مقام مطابق وینا ترتیب کي او دا هغه امر دئ چي د وینا کولو یا خطابت،سیاست او بلاغت کي په کار وړل کېږي په واقیعت کي پخوانیو شاعرانو او لیکوالانو د خپلو کیسو د اکټرانو دپاره مناسبه ژبه کاروله او په عادي ژبه یې خپل اکټران ږغول خو اوسني لیکوالان کوښښ کوي چي خپل اکټران په داسي ژبه وږغوي چي په هغه کي د بلاغت او خطابت د فن څخه کار اخستل سوی وي.

**خوی او خصلت**

(c) ketabton.com: The Digital Library

خصلت او خوی په تراژيدي کي هغه برخه ده چي موږ ته دا راښيي چي که چيري موږ د يو مشکل سره مخ کېږو د هغه مشکل څخه د وتلو لپاره کومه طريقه انتخاب کو او په کومي طريقې ځان ساتنه وکو نو ځکه په هغه مکالمو کي چي د خبري کوونکي د انتخاب امکان کم وي يا د ځان ساتني انتخاب يې کم وي هيڅ د خصلت او خوی سره نه ښکاري بلکي هغه خبري چي د يو شي پر شتون يا نه شتون دلالت کوي د فکر شتون دئ يا په فکري ډول د يوې موضوع بيان کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لفظ او وینا

لفظ او وینا چي د تراژیدي ځلورم مهم جز دئ لکه څه رنګه چي مخکي وویل سول لفظ او وینا د فکر د بیان څخه عبارت دئ، هم داسي هغه صفات پکښي داخل دي چي یو نظم یې باید ولري او په نظم کي مراعات سي او هغه خصوصیات چي نثر یې باید ولري او په نثر کي مراعات سي، د لفظ او وینا څخه شمېرل کېږي.

## اواز او منظر کشي

اواز پر نورو پاتو اجزاوو چي تراژیدي یې لري مهم او د مخه والی لري مګر د منظرې ترتیب چي پر عامو لیدونکو خورا تاثیر ناکه ده خو د تراژیدي د فن خورا لري او د شعر او تراژیدۍ د هنر سره خورا کمه اړیکه لري ځکه د تراژیدي تاثیر او قوت  د نمایشګرانو او صحنې پرته هم خورا ډېر دئ او په منظره کي تر شاعر زیات د هغه چا رول، چي د سټيج پر سر د ننداري ښوونکی دئ، زیات دئ.

## د واقعې یا افسانې اندازه

اوس چي مو د تراژیدي د مهمو اجزاو څخه ځان خبر کئ اوس باید پوه سو چي په واقعه یا افسانه کي کړني او پېښي څه ډول ترتیب کړو ځکه د تراژیدۍ لمړی او مهم جز همدا داستان دئ.

دا خو معلومه سوه چي تراژیدي د پېښو تمثیل او تقلید دئ چي معلومه اندازه لري خو دغه اخیر قید چي معلوم وخت لري د دې لپاره دئ چي یوه کیسه به مکمله وي او ټول اجزا به لري خو معلوم وخت او اندازه به نه لري مکمله کیسه په دې مانا چي کیسه پیل، منځ او پای ولري. د کیسې پیل هغه دئ چي په هغه پسي نوري پېښي غوټه کېږي او نورې پېښي ور پسي راځي او طبعا په ده پسي د نورو پېښو د راتګ امکان وي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کيسې پای داسي وي چي طبعا ور پسې نوري پيښي راځي خو په کيسه کي نوري پيښي نه وي ور پسې او د پای سره سم لاسي پېښي ختمي سوي وي او د کيسي منځ د کيسې هغه برخه ده چي تر هغې مخکي هم پېښي وي او ور پسې يې هم پېښي راتلونکي وي .

نو بنا پر پورته خبرو دا بايد په ياد ولرو چي په تراژيدي کي د داستان پيل داسي نه وې چي يوه پېښه د تصادف په ډول را منځ ته سوې وي او په همدې پيښي سره داستان پيل سوی وي او په تصادفي ډول ختم سي بلکي بايد هغه شرايط چي ذکر سوه بايد په پيل او پای کي مراعت سي.

همداسي په ياد ولرئ چي يو موجود يا کوم بل شی چي د زياتو اجزاوو څخه جوړ وي د ښکلا دپآره يې مهمه ده چي د اجزاوو تر منځ يې بايد نظم او ترتيب موجود وي او همداسي بايد يو معلومه اندازه ولري ځرنګه چي د ښکلا شرط د يو معلومي اندازې او نظم او ترتيب درلودل دي نو په دې خاطر که يو ښکلی شی ډېر کوچنی سي ښکلی نه بلل کېږي ځکه سترګي يې په ليدلو کي د ستونزو سره مخ کېږي او ادراک احاطه نه سي پر کولای او که تر اندازې زيات لوی سي هم ښکلی نه دئ ځکه بيا يې هم ادراک سخت دئ او وحدت تماميت يې ليدونکي ته نه مالومېږي مثلا که يو حيوان فرض کو چي د هغه لوی والی څو زره استاده دئ . نو بنا پر دې چي د حيواناتو دپاره يو معلوم لوی والی سته په افسانه يا داستان کي چي د تراژيدي مضمون جوړوي هم همدغه حال دئ چي بايد دومره وي چي انساني ذهن په اسانۍ سره احاطه پر وکولی سي.

نو له دې کبله چي د تراژيدي وخت او اندازه د تراژيدي هغه برخه ده چي د ناستو نندارچيانو د صبر او حوصلې سره اړيکه لري نه د شعر او فن سره، ځکه چي که په يوه مسابقه کي د سلو تراژيديو د نمايش پلان وي نو بايد چي تراژيدي په آبي ساعت سره تعين او محدوده سي لکه څه رنګه چي بعضو ويلي دي چي په پخوانيو زمانو کي دا کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر سره کېدئ مگر د تراژيدي اندازه داسي بايد وټاکل سي چي د طبيت د غوښتنو سره سم وي نه د وسايطو او خاريجي لاملونو سره.

نو ځکه هر څومره چي کيسه اوږدېږي هغومره به ښکلا پکښي اضافه کېږي په دې شرط چي انساني عقل به يې احاطه کولی سي نو د تراژيدي دپاره دومره وخت په کار دئ چي د طبعي پېښنو په تسلسل سره د داستان هېرو د کيسې په جريان کي له بد بختيه تر نيک بختيه ورسوي يا د نيک بختيه تر بد بختيه پوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ډرامې د کردارونو قاعدې

## د پېښو يووالی يا وحدت

د پېښو يووالی لکه څه رنګه چي بعضو فکر کړی دئ هماغسي نه دئ دوی دا فکر کړی چي د پېښو يو والی د قهرمان د يووالي سره تړلی دئ او دوی وايي چي داستان بايد د يوه سړي پېښي راواخلي چي دا د پېښو يووالی نه سو بللی بلکي موږ وينو که د داستان قهرمان يو هم وي نو بيا هم د پېښو زياتوالی حتمي دئ چي هيڅ کله وحدت ورته نه سو ورته ويلی نو دا مالومېږي چي ټول هغه شاعران يا ليکوال چي هرقل نامه يا تزه نامه يا نوري منظومي ليکلي دي پر خطا لاره تللي دي ځکه دوی دا ګمان کوئ چي د داستان قهرمان بايد يو نفر وي لکه هرقل چي دغه فکر د دوی خطا وو.

مګر هومر چي په هر شي کي يې اعلا مقام درلودلئ دی د داستان او افساني په رموزو خبر او عالم وو يا په خپل خاص مهارت سره ده د دې علم درلودلئ؛ نوموړی په دغه مسله کي هم پر ښه لاره تللی دئ او د داستان و اصل ته يې ځان رسولی دئ ځکه کله چي ده اوديسه ليکلې ده نو د اوليس د ژوند ټول وقايع يې نه دي را اخستي بلکي څرنګه چي اوليس شاهزاده په پارناس کي زخمي کېږي او د يونان د يوې ټولني په منځ کي خپل ځان پر لېونتوب اچوي دغه کيسه يې په خپله افسانه کي نه را اخلي ځکه چي که د دغو دوو پېښو څخه يوه راوړل سي نو د هغې بلي راوړل لازمي برېښي.

هومر په خپل اوديسه کي کوښښ کړی دئ چي کيسه يې ټول پر يوه موضوع راګرځي چي په همدې موضوع کي هم دغه يو والی ساتل سوی دئ او په الياد کي يې هم دغه کار تر سره کړی چي په اوديسه کي تر سره سوی نو پر دې باندي په ټولو هغه فنونو کي چي د تمثيل او تقليد اړخ لري د تقليد او تمثيل د وحدت څخه عبارت دئ. د موضوع يووالی په افسانه او کيسه کي هم همدغه دئ چي وحدت يې د موضوع وحدت دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه افسانه او داستان د کړنو او کردار تمثیل او تقلید دئ  او دغه پېښي باید په داسي ډول سره واوډل سي که چیري یې یو جز د منځه لري یا یو بل جز پکښي اضافه سي ټول داستان متزلزل کېږي  او که د یوې برخي په لري کولو او یا منځ ته د ور اچولو په خاطر پکښي کومه ګډوډي را منځ ته سي نو دغه برخه هم د داستان جز یا د داستان څخه اضافه برخه بللای سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تاريخ او فلسفه

پر هغه خبرو چي مخکي مو وکړې داسي مالومېږي چي د شاعر کار دا نه دئ چي شيان هغه سي چي دي انځور کړي بلکي شيان بايد داسي انځور سي چي شيان بايد هغه سي ووسي چي دغه خيالي دنيا د شاعر کله د احتمال پر ځلي ولاړه وي او کله د ضرورت سره تړلې وي.

دا چي شاعر او تاريخپوه دواړه خپل روايتونه ليکي چي يو يې د شعر په قالب کي ځای پر ځای کوي او تاريخپوه يې بيا د نثر په قالب کي اوډي خو بياهم که د هيرودت تاريخ راواخلو په نظم سره يې کړو نو بيا به هم تاريخ وي نه شعر، که په نثر وليکل سي که په نظم د هيرودت تاريخ، تاريخ دئ نه فن مگر د شاعر او تاريخ ليکونکي توپير په دې کي دئ چي يو پېښي چي څه رنگه پېښي سوې وي هماغه سي ليکي او شاعر يې بيا د هغو پېښو روايت ليکي چي ښآيي پېښي سي نو د دغه سببه شعر تر تاريخ ارزښت من او فلسفي دئ ځکه شعر د يو کلي شي څخه بحث کوي او تاريخ پر جزي باندي را څرخي د کلي امر څخه مراد دا دئ چي شاعر يوه پېښه داسي بيانوي چي پلانی دي پلانی کار د احتمال يا ضرورت په خاطر بايد داسي وکي که څه هم په شعر کي د اشخاصو نومونه ويل کېږي خو پېښي د احتمال او ضرورت سره تړل کېږي او امر جزي بيا په دې مانا چي يو معلوم شخص لکه کيبادس په يو معلوم وخت کي يوه پېښه کړې ده او تاريخ هغې ته د بيان جامه ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کومیډي

د لمړي سره څخه معلومه ده چي کومیډي او د کومیډي شاعران د کومیډي لوبونکو اشخاصو ته نوم نه ورکوي مگر دوی هم د تراژیدي خلاف د داسي پېښو تمثیل کوي او داسي پېښي بیانوي چي حقیقت ته نژدې وي دوی د پخوانیو هجا ویونکو شاعرانو پر خلاف د چا نوم نه مشخص کوي ځکه پخوانیو هجا ویونکو شاعرانو به د کوم شخص نوم یادولی او د هغه بد به یې توصیف او تمثیل کول مگر د تراژیدي لیکوالان تل د تاریخي خلگو نومونه یادوي او د هغوی په اړه داسي پېښي تمثیلوي چي تراژیدي لیکوال د هغې د پېښېدو عقیده لري که تراژیدي بیا هم داسي پېښه انځور کي چي هغه مخکي واقع سوې وي بیا هم شعر دئ نه تاریخ ځکه چي بعضي تاریخي پېښي ذاتا د هغه پېښو څخه وي چي انسان یې د پېښېدو غوښتنه لري نو ځکه هغه ځوک چي د خپل شعر دپاره داسي موضوعات ټاکي شاعر حسابېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## افسانې او طبعي حوادث

کله کله د افسانو و منځ ته داسي موضوعات ور اچول کېږي چي هغه طبعي او پېښې سوي وي او په هغوی کي د احتمال او ضرورت کوم ټکی نه وي چي دا د ليکوال دپاره بده ده چي طبعي حوادث او د تاريخ پېښې د افسانو منځ ته ور غورځوي، داسي افسانې يا کيسې هغه ليکوالان اوډي چي د خپلي کيسې دپاره هنري مايه و نه لري او کله کله لوی شاعران دغه کار د اکثر د ضرورت په خاطر چي کيسه اوږده کي ځکه کيسي د مسابقو دپاره وړاندي کوي چي د افسانې د اوږدوالي دپاره د پېښو په منځ کي طبعي پېښې په داسي ډول سره اوډي چي هغه د احتمال او ضرورت تومنه ور سره وي .

### وېره او خواخوږی

يواځي تمثيل او کيسه کول د شاعر دپاره بسنه نه کوي بلکي شاعر بايد پېښې په داسي ډول سره اووډي چي د وېري او خواخوږی سبب سي تر څو په ليدونکي کي ترس او شفقت راوړي او دا کار هغه وخت ممکن دئ چي پېښې داسي ووډل سي چي د ليدونکي د توقع خلاف وي او دغه پېښې يو د بل څخه وزېږول سي ځکه په دغه صورت کي ليدونکي ته تعجب او ذهني جنجال را منځ ته کېږي تر څو راتلونکي پېښې د تصادف او بخت پر بنياد را منځ ته کېدونکي وبولي.

### په کيسه کي هيجان او د غوښتني خلاف کړني

هغه وخت پېښې ښه د تعجب او هيجان سبب کېږي چي هغه پېښې چي د تصادف د مخي را منځ ته سوې وي د قصدي شکل ور کول سي لکه د ميتيوس مجسمه چي د نمايش په ورځ د هغه د وژونکي پر سر رايله سوه او د ده وژونکی يې وواژه چي دغه ډول حوادث يواځي تصادف او بخت و نه بولل سي او همدا لامل دئ چي کيسه ښکلا پيدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ساده او مرکب کردارونه

د ډرامي کردار دوه حالتونه لري چي یا به ساده کردار وي یا به مرکب کردار وي چي آن واقعي ژوند او پېښي هم د همدې دوو حالاتو سره مخ دي هغه واقعي ژوند چي ډرامه یې په تمثیل کي وړاندي کوي .

### ساده کردار

هغه کردار دئ چي پیښي پر خپل لمړني حالت رواني وي او تحول او تعرف منځ ته نه سي پکښي را.

### مرکب کردار

هغه کردار دئ چي پېښي تغیر پکښي وکړي یا د تعرف یا د تحول او یا د دواړو په خاطر په دې مانا چي د هیرو بخت بدل سي او د پېښو اړخ واوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تحول او تعرف

تحول او تعرف هم باید د ډرامې د یوه مهم جز په حیث وپېژنو چي دغه تحول او تعرف په ډرامه کي د ضرورت یا هم د احتمال د مخي منځ ته راځي او یا به د مخکینیو پېښو سره په اړیکه کي چي مخکینۍ پېښي د دغه تحول او تعرف سبب سي را منځ ته کېږي .

### د تحول او تعرف پېژندنه

تحول په کیسه کي د یو داسي پېښي را منځ ته کېده دي چي د کیسي د عادي حالت سره په ټکر کي وي او دغه تحول به هم د احتمال او ضرورت پر اساس وي لکه په نمایش نامه کي چي ادیپوس ته د فراز قاصد راځي او دی دا فکر کوي چي په دې سره به ادیپوس دېر زیات خوشحاله سوی وي  او کله چي قاصد ته معلومېږي چي دی څوک دئ نو په ډرامه کي حالت بدلېږي  او همداسي د لنسه په ډرامه کي چي کله لنسه د وژلو دپاره راولي او دانایوس یې د وژلو په قصد تر شا راځي د کیسي انجام داسي کېږي چي دانایوس وژل کېږي او لنسه ژوندۍ پاته کېږي.

تعرف یا پېژندنه: لکه د نامه څه چي معلومېږي د جهل څخه و معرفت ته اوښتل دي چي د خلګو تر منځ چي تقدیر یې نیک بخته یا بد بخته وي دوستي په دوښمنۍ بدلوي او دوښمني په دوستیو بدلوي  او ښه تعرف هغه تعرف دئ چي د تحول سره یو ځای منځ ته راسي  لکه د ادیپوس په ډرامه کي،  تعرف نور ډولونه هم لري لکه یوه ډرامه کي چي بې روح شیان د پېژندني سبب ګرځي  چي  پلانی کار پلاني شخص کړی دئ او پلانی کار پلاني شخص نه دئ.

مګر د تعرف د ډولونه څخه چي د افسانې یا ډرامې د مضمون او کردار سره سر خوري هغه تعرف دئ چي مخکي یې یادونه وسوه ځکه دغه تعرف هغه تعرف دئ چي د تحول سره یو ځای را منځ ته کېږي او وېري او شفقت د زېږېدو سبب ګرځي او دا خبره حتمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چي تراژيدي د هغه پېښو تقليد او تمثيل دئ چي دغه ډول عواطف را منځ ته کوي او د کرکټر نيک بختي او بد بختي هم د همداسو پېښو څخه منځ ته راځي.

نو د دې پورته بيان څه دا معلومېږي چي د تعرف موضوع اشخاص دي چي کله داسي را منځ ته کېږي چي يو څوک په تراژيدي کي نور کسان معريفي کوي  او د دې دوو طرفو څخه يو د  دوی څخه په دې پوهېږي چي دی څوک دئ او کله کله تعرف دواړو طرفو ته رامنځ ته سي لکه په ارسال نامه کي چي ايفي ژني د اوروست دخوا معريفي کېږي مگر يو بل تعرف ته هم ضرورت وو چي اوروست ايفي ژني ته معريفي کي.

**د درد را منځ ته کول**

نو د تراژيدي د مضمون دوه عمده جزه چي تحول او تعرف وو و مو پېژندل  مگر د ډرامې مضمون يو بل جز هم لري چي  د درد رامنځ ته کول دي چي د همدې تحول او تعارف سره را منځ ته کېږي  درد په تراژيدي کي هغه کردار دئ چي د هيرو د مرگ يا بل تکليف سبب کېږي  او کتونکو ته غم او درد ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تراژدي نوري برخي

که څه هم موږ د تراژيدي د هغو برخو په اړه چي تراژيدي بايد ور څخه جوړه سي خبري وکړې هم مو د تراژيدي د اوږدوالي او قسمونو څخه بحث وکړ خو همداسي تراژيدي نوري برخي هم لري .

**۱:ــ پرولوګ يا مقدمه**

**۲:ــ تمثيل ښووونه ابيسود**

**۳:ــ وتل پاى يا اکسودوس**

**۴:ــ سرودونه چي يوه ډله يې په ګډه وايي**

**چي دغه سرودونه بيا پر دوه ډوله دي :**

**۱:ــ لمړني سرودونه يا بارودوس**

**۲:ــ استاسيمون**

دغه پورته اجزا په ټولو تراژديو کي يو شان دي خو په بعضو تراژديو کي په خاص ډول سره دغه لاندي دوې برخي هم وي چي دا په ټولو تراژديو کي نه وي:

**( الف ) د تمثيل کوونکو دپاره سرودونه**

**( ب ) مرثيې يا کوموس**

**د پورته اجزاوو تعريف**

**مقدمه يا پرولوګ:** دا هغه برخه ده چي تر اصلي کيسې مخکي و هېرو ته پېښي سوي وي او د مممثلينو تر راتګ مخکي ويل کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**تمثيل ښوونه:** چي دغه برخه د تمثيل د دوو سرودونو په منځ کي واقع کېږي.

**د پيل سرود يا بارودوس:** دا د تمثيل دپيل سرود دئ چي په همدې سرود سره تمثيل پيل کېږي .

**استاسيمون** : دا هغه سرودونه دي چي د يوې ډلي له خوا ويل کېږي او د انابستيه او طروخاسيه وزنونو څخه خالي دي.

**کوموس** دا هغه سرودونه دي چي موضوع يې مرثيه او د ممثلينو د خوا څخه تمثيل او ويل کېږي.

موږ مخکي د تراژدي د کيفي اجزاوو څخه بحث وکئ چي تراژدي څه ډول جوړېږي وروسته مو د تراژيدي کمي اجزا تشريح کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تراژدي د کردار ځانګړني

د تراژدي د اجزاوو تر تکميل وروسته موږ ووايو چي :

۱: شاعر کوم هدف لري چي تراژيدي جوړوي؟

۲:ـ د کومو شيانو څخه په تراژيدي کي بايد ځان وساتي ؟

۳:ـ کوم وسايل دي چي په هغو سره تراژيدي ښه نتيجه ورکوي؟

۴:ـــ د قوي تراژيدي د تحول او تغير ډولونه.

لکه مخکي چي مو وويل چي قوي تراژيدي هغه تراژيدي ده چي بسيطه نه وي بلکي کردارونه يې د تحول يا تعرف په خاطر ترکيب پيدا کړی وي او همداسي تاسو په دې پوه سواست چي تراژيدي د هغو ښېښو تمثيل او تقليد دئ چي په ليدونکو کي ترس او شفقت پيدا کي ځکه د همدې فن مقصد هم همدا دئ چي په انسان کي عاطفي بدلون راولي، نږ اوس بايد په دې پوی سو چي په تراژيدي کي هيڅ وخت داسي بايد ونه سي:

۱:ـ چي نيک خلګ دي د نيک بختيه بد بختۍ ته بدلون وکي. ځکه دغه کړنه د ترس او شفقت د را منځ ته کېدو لامل نه کېږي بلکي په ليدونکي کي نفرت او بدبيني را منځ ته کوي.

۲:ـ هيڅکله بايد د بدانو خلګو حالت په تراژيدي کي د بد بختيه و نيک بختۍ تغير نه سي ځکه دغه کار هم د تراژيدي د طبيعت خلاف او د تراژيدي د غوښتنو څخه لري ده او هيڅ هغه غوښتني چي د تراژيدي هدف دي نه ترلاسه کوي په اصل کي دغه پېښي نه په ليدونکي کي ترس او شفقت را منځ ته کوي او نه انساني عواطف په جوش راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳:ــ همداسي هغه څوک چي بدذاته وي هم بايد د بد حاله ښه حال ته و نه ګرځي دغه کار که څه هم انساني عواطف را بيداره کوي خو د ترس او شفقت حس نه راولاړوي ځکه د شفقت د را منځ ته کېدو دپاره هغه څوک چي بايد په ښه حال کي وي هغه په بد حال کي قرار لري چي انساني خواخوږي را منځ ته کي او ترس هغه وخت را منځ ته کېږي. کله چي موږ هيرو وينو چي لکه زموږ غوندي په بېلابېلو کړاونو کي ګېر دئ او دغه حالت زموږ د حالت غوندي دئ نو مو د ترس حس را بيداره سي.

نو د شفقت موضوع هغه څوک دئ چي نه بايد په داسي بد حال کي وای خو دی په کيسه کي په بد حالت کي وي يعني د ډرامې هېرو په بد حالت کي ايسارول خواخوږي را منځ ته کوي او د ترس موضوع هغه څوک دئ چي حالت يې زموږ د حالت غوندي وي نو کله چي موږ بدذاته سړی له بده حاله ښه حال ته راوګرځوو نو معلومه خبره ده چي نه به په موږ کي ترس را منځ ته سي او نه هم شفقت.

اوس دهغه هيرو حال پاته سو چي په منځګړي حال کي قرار لري دا هغه څوک دئ چي دی په ښه حال کي نه وي چي د ده دغه بد حالت په دې خاطر نه وې چي د ده سره بې عدالتي سوې بلکي د ده خپلي يوې لويي خطا په خاطر چي د نوموړي څخه پېښه سوې وي د ده حالت بد سوی وي او دغه حالت د هغه کس وي چي د خلګو تر منځ د ښه موقف لرونکی وي لکه اوديپوس او تيست او نور د افسانې اشخاص چي له دا ډول کړنو سره مخ سوې وي.

افسانه يا ډرامه هغه وخت ډېره ښکلې وي چي ساده او بسيطه وي نه داسي لکه نور چي فکر کوي چي ښکلې ډرامه دي دوه رنګي ولري او بله دا چي په ډرامه کي بايد د هيرو انتقال د ښو ورځو څخه بدو ورځو ته نه وي بلکي بايد د بد بختيه، نيک بختۍ ته انتقال وکي او دغه انتقال به هم د هيرو د بدذاتۍ سره يو ځای نه وي بلکي دغه انتقال به د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیرو د یوې غلتې ګناه په خاطر چي هیرو تر سره کړې وي دغه انتقال را منځ ته سوی وي.

لکه څه رنګه چي مو وویل باید تر هغه ښه وي نه بد او د دې خبري دلیل دا دئ چي شاعرانو مخکي د افسانو او کیسو تر منځ تفاوت په نظر کي نه نیولی او هر څه چي یې په مخه راتله نظم کول یې مګر اوس ښه تراژیدي هغه ده چي د مشهورو خلګو د کورنیو د کیسو په اړه یي او د اګاممنون، ادیپوس، اوروست، ملثاګر، تیست او تلف غوندي کسانو د سرګذشت په اړه بحث کوي او د دوی د مصیبتونو او د هغه څخه د راوتلو د عواملو بحث کوي.

نو ځکه د هغه کسانو لپاره چي تراژیدي لیکي ښه تراژیدي هغه ده چي د فن ټولو تقاضاوو سره سر وخوري او د فن د تقاضاوو مطابق وي.

نو اوس د هغه خلګو غلطی ښکاره کېږي چي یوروپیډ باندي یې انتقاد کړی چي ولي یوروفیډ خپلي زیاتي تراژیدی د الیم په درد ناکه پای سره ختمي کړي دي ځکه لکه ما چي مخکي وویل چي همدغه طریقه یې غوره او ښه طریقه ده او دلیل یې دغه دئ چي هغه ټوله تراژیدیاني چي په دغه طریقه سر ه په ښه ډول او لوړ فکر جوړي سوي وي د تراژیدي په مسابقه کي غوره او لوړ مقام ګټلی دئ نو په دې خاطر که څه هم یوروپېډ د بلاغت له مخي کمزوری شاعر بلل سوی خو بیا هم په تراژیدي کي د هغو شاعرانو په ډله کي چي لوړ مقام لري شمارل کېږي.

د هغه تراژیدي، چي موږ یې په اړه بحث وکئ، وروسته په دویم مقام کي راځي که څه هم بعضي ورته په لمړي مقام قایل دي. هغه تراژیدي چي دوه رنګه حوادث په دوریي ډول پکښي منځ ته راځي لکه د هومر په اودیسه کي چي دغه ډول پېښي منځ ته راځي په بل ډول عبارت چي د نیکانو او بدانو حال پکښي بل ډول وي، مګر بعضي د دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تراژیدیو په لمړني کتار کي د عامه اذهانو په خاطر قرار لري ځکه شاعران د عامه اذهانو خیال ساتي او هغه پېښي او داستانونه چي عامه اذهان یې خوښوي د خپلو منظومو موضوع ګرځوي مګر هغه خوند چي د دغو تراژیدیو څخه منځ ته راځي هغه خوند او لذت نه دئ چي د لومړني ډول تراژیدي څخه منځ ته راځي بلکي د دوریي تراژیدي څخه داسي لذت منځ ته راځي لکه د کومیډي څخه چي منځ ته راځي لکه د اوروست او اژیست په داستان کي چي دواړه یو د بل دوښمنان دي خو وروسته داسي حالت منځ ته راسي چي نه د یو او بل دوښمن سي بلکي دواړه دوستان سي چي بیا نه قاتل پاته سي او نه مقتول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ترس او شفقت

ترس او شفقت کېدای سي چي د منظرې او نمایش څخه را منځ ته سي او کله نا کله د پېښو د ترتیب څخه او دغه دویم چي د پېښو د ترتیب څخه ترس او شفقت را منځ ته سي د لویو شاعرانو کار او لوړ او عالي کار دئ بلکي ډرامه داسي باید ترتیب سي چي بېله نمایشه، کله چي یو څوک یې کیسه او داستان وایي باید په لرزه راسي او په وجود کي د قهرمان یا هیرو پر حال ترس او شفقت را منځ ته سي، لکه چي دغه حالت د ادیپوس په ویلو سره را منځ ته کېږي او څوک چي غواړي ترس او شفقت په کیسه کي د نمایش په زور سره را منځ ته کي دا د شاعرانو او لیکوالانو کار نه دئ او د شاعرۍ د طریقې څخه لري ده او تر اسبابو او وسایلو پرته نور هیڅ د ځانه سره نه لري.

او څوک چي غواړي د صحنې په زور سره په ډرامه کي وحشت و خلګو ته وښیي دا کار د تراژیدي سره هیڅ اړیکه هم نه لري ځکه تراژیدي نه غواړي چي هر ډول مضمون په ځان کي ځای پر ځای کي ځکه تراژیدي باید داسي اثار چي په انسان کي ترس او شفقت را منځ ته کي هغه هم د محاکات او تقلید په واسطه وي او دغه حالت به د پېښو د ښه ترتیب څخه را منځ ته کېږي.

### د داستان د اشخاصو تر منځ اړیکه

اوس باید پوه سو چي کوم ډول او څرنګه اړیکه د ترس سبب کېږي او کومي پېښي د شفقت زېږنده کېږي او دغه اړیکي د هغو کسانو تر منځ را منځ ته کېږي چي یو دبل سره د دوستۍ اړیکه یا دوښمنۍ یا نه د دوستۍ نه دوښمنۍ اړیکي ولري.

اوس که په داستان کي یو دوښمن د بل دوښمن د وژلو کار تر سره کړي یا یې د وژلو تر حده ورسوي دا امر د د شفقت سبب او لامل نه کېږي هم داسي که هغه کسان چي نه دوستي سره لري او نه دوښمني ور سره لري که یو د بل د وژلو لامل سي بیا هم شفقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه زېږوي مگر كه دغه حالت د هغو خلگو تر منځ چي يو د بل سره دوستي لري تر سره سي لكه يو ورور چي بل ورور يا ځوی خپل پلار يا مور اولاد يا اولاد مور په داستان كي مړه كړي نو دا د شفقت د را منځ ته كولو سبب كېږي چي يو شاعر بايد د خپلي تراژيدي لپاره دا ډول موضوعات پيدا كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زړې کیسې

په زړو او پخوانیو کیسو کې شاعر دا حق نه لري چې یو لوی تغیر را منځ ته کي مقصد مي دا دئ چې کلی تمنستر باید په هره تراژیدي کي د اوروست په لاس مړ سي او اري پیل باید اګاممنون له منځه یوسي، پر شاعر لازمه ده چې په پخوانیو کیسو کې باید د هغوی مطابعت وکي او د خپل کمال په زور سره د پېښو ترتیب ته فکر وکي.

**په کردادار کي بېلابېل حالتونه**

په یوه افسانه کیدای سي چې شاعر پېښې داسي راوړي لکه پخوانیو شاعرانو چې راوړي دي، یعني پېښه په داسي حال کي تر سره کوي چې د پېښې کوونکی په پېښه او په خپلوئ دواړو باندي خبر او اطلاع ولري او کله کله بیا هېرو ناخبره ګڼل کېږي او وروسته په خپلوئ او قرابت سره خبرېږي او خپل په بد کار یې خبر تر لاسه کېږي لکه د اودیپوس قهرمان سره چې دا پېښه سوفوکل داستان کي تر سره کېږي مګر په دغه ډرامه کي کوم کس چې دغه بد کار تر سره کوي د نمایش څخه یې د باندي تر سره کوي او په نمایش کي نه ښودل کېږي او کله کله دغه بده کړنه په نمایش کي هم ښودل کېږي لکه اګاممنون چې دغه پېښه د په آستي دا ماس کي کړې ده او همداسي په تلګونوس ډرامه کي چې په زخمي اولوس سره مشهوره ده دغه کار تر سره کړی دئ.

دریم حالت داسي دئ چې هېرو پېښه په خطا ډول سره تر سره کړي خو دی د دې خطا جبران نه سي کولای او تر خطا دمخه دی پر خپله خطا خبر سوی وي تر دغو درو حالاتو پرته بل کوم حالت منځ ته نه راځي ځکه چې د انساني کړني سره په اړیکه کي چې څوک یوه کړنه تر سره کوي یا به یې نه تر سره کوي یا به د کړني په اړه مالومات لري او یا به مالومات نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې حالاتو په منځ کي هغه څوک چي په پېښو خبرېږي یا به دی دغه کړنه تر سره کوي یا به یې نه تر سره کوي، کم داسي حالات به وي چي د دغو حالاتو څخه بېل وي اما د تراژیدي طبعه داسي ده چي تر څو یو مصیبت او فاجعه را منځ ته نه سي تراژیدي نه را منځ ته کېږي اما نفرت په تراژیدي کي د ښو شاعرانو په شعر کي او تراژیدي کي نه سو پیدا کولای او دغه حال د همون نسبت وه کریون د آن تي گون په ډرامه کي دئ اما که چیري په یوه ډرامه کي دغه حالت منځ ته راځي نو دغه ډرامه په دوهمه درجه کي قرار لري خو تر ټولو ښه تراژیدي به هغه وي چي هیرو د عمل تر مخه په کوم څه نه وي خبر او د گناه کولو وروسته دی په دې گنا خبرېږي چي څومره لویه گنا یې تر سره کړې ده د دې نه ما سېوا نور عملونه د لیدونکي د نفرت سبب کېږي او تر گناه وروسته خبرېده به لوستونکی د حقیقت د موندلو دپاره د ځان سره و ساتي.

د دغو حالتونو په منځ کي دریم حالت چي په تراژیدي کي تر ټولو ښه حالت بللی سو او دا هغه حالت دئ چي مورونت د کرسفونټ په ډرامه کي ور سره مخ کېږو، چي موروف د خپل زوی د قتل اراده کوي او کله چي دی دې کړني ته نیژدې کېږي نو په دې پوهېږي چي دا یې زوی دئ او د دې لویي گناه د کولو څخه ډډه کوي او په ایفي ژیني کي دغه حالت د خور او ورور تر منځ را منځ ته کېږي او همداسي په هله ډرامه کي کله چي زوی غواړي خپله مور دوښمن ته تسلیم کي خپله مور وپېژني.

نو پر دې اساس لکه څه رنگه چي مخکي وویل سوه  د هغو مشهورو کورنیو  د کیسو څخه اوس په تراژیدي کي کار نه اخستل کېږي بلکي اوس شاعران د نورو موضوعاتو په اړه خپل تلاش کوي نو اوس زیاتره پېښې د تصادف او بخت سره تړل کېږي چي دا د شاعرانو د لیاقت سره کومه اړیکه نه لري لکه دوی چي په بعضي تراژیدیو کي د خپلي تراژېدي لپاره وړ موضوعات پیدا کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څه چي د پېښو او اکټونو په اړه دلته ووېل سوه په تراژيدي کي همدومره بسنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د داستان د څېرو خوی او خصلت

د تراژيدي د قهرمان د خوی او خصلت اړوند شاعر بايد څلور نکتې په نظر کي ولري لمړی دا چي د داستان هيرو بايد د ټولني ښه خويونه په ځان کي ولري، لکه څه رنګه چي مخکي ورته اشاره سوې ده، د پېښو له مخي د نوموړي اقوال کړني او اکټونه سنجيده او منل سوي وي او ښه وي او ښه خوی د انساني طبقې په هره برخه کي کېدای سي چي منځ ته راسي نو بنا پر دې ممکنه ده چي يوه ښځه دي هم د ښو اخلاقو خاونده سي او همداسي کېدای سي چي مريی دي هم ښه اخلاق ولري که څه هم ښځه تر نارينه ذاتا ډېره ټيټه پيدا سوې ده او مريی هم ذاتا تر نورو نارينه وو بدذاته پيدا سوی دئ.

دويم د اشخاصو او صفاتو تر منځ بايد مناسبت موجود وي په دې مانا چي که د داستان څېرې په مېړانه سره توصيف کېږي بايد نارينه وي ځکه د ميړاني صفت د ښځي سره هيڅ مناسبت نه لري.

دريم مشابهت څرنګه چي په داستان کي يوه څېره څرنګه ستايل سوې وي په نمايش کي هم هماغسي څېره ورته پيدا سي او دغه مشابهت د پورته دواړو صفتونو څخه رابېل دئ .

څلورم پر صفاتو دوام او همېشه توب دئ نو که چيري د داستان هېرو په کيسه کي داسي وي چي د خوی او عادت بدلوونکی وي نو بايد دئ چي پر دغه صفت چي مداري توب دئ تر پايه دوام ورکي او دغه خوی او خصلت هر وخت او هر ګړی په داستان کي تبديل کي.

نو د هغه سيرت او خوی مثال چي بې ضرورته او بې دليله نا خوښه بلل کېږي. منلاس د اورست په ډرامه کي او د هغه نيک سيرت مثال چي مناسبت او توافق پکښې نسته د اوليس سيرت او خوی دئ چي په سيلا ندبه او مويه ډرامه کي نندارە کېږي او دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت د منیلیف هم دئ چې د عدم ثبات مثال د ایفیزیني د کرکټر دئ. په اولي ډرامه کي ایفي ژیني د زاریو او سوال په حالت کي ښودل کېږي چي په پاته ډرامه کي دغه حالت د ده د کرکټر سره هیڅ اړیکه نه لري.

نو د داستان د څهرې په خوی، سیرت او د پېښو ترتیب ضروري ده او باید پام وسي چي ایا دغه کردارونه ضروري دي؟ حقیقت ته نیژدې دي؟ یا یې احتمال سته؟ ځکه پېښي د شخص سره په داستان کي یا باید د احتمال پر اړېکه وي یا د ضرورت پر اساس وي او د پېښو په ترتیب کي هم باید دا ټکی په نظر کي ونیول سي.

همداسي د داستان پای هم باید د مخکینیو پېښو پر ترتیب را منځ ته سي او په عادي ډول سره داستان تمام سي نه لکه په مده او الیاد کي چي خدایان په ناساپي ډول سره په کیسه کي ګډون کوي او کله چي کښتۍ د بیرته تګ ړنګ وهي نو دلته په داسي ډول سره د خدایانو مداخله پیلېږي چي د خدایانو مداخله په بشري چارو کي ډرامې ته خاتمه ورکوي نو هیڅکله هم نه باید خدایان په انساني کړنو کي واسطه او کومک کونکي واوسي. یو په هغه کړنو کي چي په ډرامه کي د داستان څخه وتلې بر خه وي او یا په هغه کړنو کي چي د داستان تر شروع مخکي د هیرو سره پېښیږي د هغه کړنو په اړه خبرداری ورکي چي د انسان د طاقت څخه وتلي وي یا د هغه کړنو په اړه خبرداری ورکي چي په داستان کي وروسته راروان دي او په غیب ویلو کي هم د خدایانو شتون ته په کیسه کي اړتیا سته او دا هم په دې خاطر چي موږ خدایانو ته د هر څه د لیدلو او علم درلودلو سره قایل یو او واجب ده چي په پېښو کي هم هیڅ غیر معقول کار منځ ته را نه سي او که د پورته کړنو څه یوه هم تر سره سي نو باید چي خارج کي هم هغسي کړني تر سره سي لکه په اودیپوس ډرامه کي د سوفوکلز سره همدا کار سوی دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ډرامې د ممثیلینو تمثیل

څه رنګه چې تراژیدي د هغه خلګو داستان دئ چې تر موږ لوړ دي نو ځکه د تراژیدي د تمثیل دپاره ماهره خلګ ونیول سي ځکه تمثیل کوونکي چې کله وغواړي ترڅو نمایش وکي نو د اصل سره یې ښه تشبېه کولای سي بلکي تر اصل یې ښه تمثیل کوي او کله چې غواړي د هغه خلګو تمثیل وکي چې په تراژیدي کي توند خویه بې زړه او یا کوم بل نیم ګړی خاصیت او صفت ولري لکه څه رنګه چې دي هماغه سي تصویروي د دې مثال آشیل دئ چې په اګاممنون او هومر ډرامه کي ښوول سوی دئ.

نو د دې ځایه وایو چې هغه امور چې باید یو ډول په نظر کي ونیول سي او د نمایش سره سر و کار ولري او د شاعری د فن سره اړیکه نه لري باید په ښه ډول په نظر کي و نیول سي ځکه کله کله په دغو شیانو کي خطا راځي او په دې برخه کي پوره بحث په هغه رسالو کي وګورئ چې د تمثیل د فن اړوند خپرې سوي دي.

### د پېژندګلوئ یا تعرف قسمونه

د تعرف یا پېژندني تعریف مو وکړئ خو د تعریف د اقسامو څخه یو قسم هغه دئ چې بعضي شاعران یې استعمالوي او هنري جنبه یې کمه ده او دغه شاعران چې د ابتکار تومنه نه لري دغه تعرف د یو شي پېژنده د هغه شي د علامو څخه کوي بعضي د دغو علامو څخه هغه علامې دي چې د پخوا څخه د تعرف لپاره استعمالېږي لکه د نیزې تصویر د مځکي د اولادونو د پېژندني علامه ده او په دې سره پېژندل کېږي یا لکه د ستورو علامه چې کارسینیوس په تیست ډرامه کي راوړې ده او بعضي د دغو علامو څه کسب او لیدل کېږي چې د شخص د بدن سره تعلق لري لکه د یو زخم نښه. بعضي نور علامات هم د پېژندني دپاره سته لکه غاړګۍ یا لاس بند چې دغه ډول تعرف په تیرو وختونو کي په تراژیدي کي را منځ ته سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه علايم ليكوال او شاعر بايد په بيلو بيلو او مختلفو لارو باندي د خپلي وړتيا سره سم راوړي لکه اوليس چي خپله دايي د بعضو زخمونو د نښو څخه وپېژني او همداسي چوپانان هم د زخمونو د پاتي سوو نښو د مخي وپېژني او دغه ټوله پېژندني د علايمو او نښو په راوړلو ازمايل سوي او مشهوره تعرف دئ خو هنري اړخ يې زيات نه دئ مگر د اوليس په ډرامه کي چي اوليس خرسلاو ته راوړي خو بيا يې په ناڅاپي او معقوله توگه تعرف او پېژندگلوي رامنځ ته کېږي چي دغه ډول تعرف ډېر ښه دئ.

د پېژندني دوم ډول: په ډرامه کي دغه تعرف د شاعر د ابتکار، ذوق او سليقې سره سم را منځ ته کېږي نو په دې خاطر بيا هم فني ارزښت يې دونه نه وي لکه د ايفي ژيني په ډرامه کي چي ايفي ژيني د خپلي خور له طرفه څخه پېژندل کېږي مگر اوروست بيا د مکالمې په ترس کي پېژندل کېږي او دغه مکالمي د شاعر او ليکوال د ذوق سره سمي رامنځ ته کېږي خو طبعي او د پېښو په توافق نه را منځ ته کېږي او دغه پېژندگلوي هم د تېرو پېژندنو په څېر نيمگړتيا لري او کله د اواز او چيغو وهلو په واسطه سره دغه تعرف منځ ته راځي لکه د سوفوکلز په ډرامه کي.

بل هغه ډول دئ چي د حافظې او تېرو پېښو د په يادېدو په صورت کي را منځ ته کېږي يعني د يو شي په ليدلو سره انسان په دهشت کي لوېږي او تېري خاطرې يې ذهن ته راگرځي د دغه پېژندگلوئ مثال د قبريسيان په ډرامه کي ديسه اوزون اثر دئ چې يوه صحنه سته او په دي صحنه سرې يو تصوير ويني نو په ژړا سر کېږي او يوه بله نمونه يې د السي نيوس ده چي کله اوليس د جنگ بړغ اوري نو تېر يې ور يادېږي او په ژړا سر کېږي او په دې طريقه تعرف ورته رسېږي.

څلورم ډول تعرف هغه تعرف دئ چي د قياس د مخي منځ ته راځي لکه کوي پور په ډرامه کي. کيسه داسي ده چي زما سره ورته کوم څوک راځي او زما سره ورته بل څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

نسته یواځې اوروست دئ نو حتما دغه سړی اوروست دئ او د همدې تعرف د ډول ځخه د پولویدس سوفسطایي د ایفي ژیني په اړه همدا سوچ کړی وو ځکه ده دا قیاس کړی وو که چیرته د ده خور نن قرباني کېږي نو دغه کار د ده سره هم کېدای سي، همداسي د تیده په ډرامه کي چي تیود لیکلې ده  داسي قیاس کوي چي دی خو د ځوی په تلاش راغلی کیدای سي چي دی خپله مړ سي او خپل انجام د قیاس د مخي پېژني ځکه که هغوی د ده ځوی دلته د هلاکت دپاره پرې اېښی وي نو دا خو د هلاکت ځای دئ او دی هم همدلته دئ نو کېدای سي چي دی هم پکښي ومري.

یو بل ډول د تعرف هم سته چي دغه ډول د شاعر پر باور جوړ دئ چي پر یو دروغژن قیاس ولاړ وي او داسي فکر کوي چي ګوندي تماشه چیان دوکه کوي لکه د اولیس دروغجن پېغمبر په ډرامه کي چي اولیس د لیندې نه اصلحه جوړوي چي د ده نه پرته دغه کار هیڅوک هم نه سي کولای یا دا چي دی یواځې لینده پېژني او بل کوم څوک یې نه پېژني دا په تراژیدي کي داسي حالت دئ چي لیکوال فکر کوي چي لیدونکي په اشتباه کي اچوي او دی فکر کوي چي د دې لاري تعرف را منځ ته کي او دا نور هیڅ هم نه دي یواځې د یو  دروغجن قیاس پر بنیاد نندارہ چیان په اشتباه کي اچول دي.

د دغو ټولو قسمونو د تعرف څخه یو بل غوره قسم سته چي هغه قسم د پېښو او حادثو د پېښېدو څخه را منځ ته کېږي ځکه هغه حیراني او تعجب چي د داسي تعرف څخه را منځ ته کېږي چي د هغه پېښو د را منځ ته کېدو احتمال سته او حقیقت ته نېژدې دي لکه د سوفکلز صحنه په ادیپوس ډرامه یا ایفي ژیني کي، ځکه د ایفي ژیني د نوم استول اوروست ته یو احتمالي پېښه ده. د یادوني وړ ده چي هغه تعرف چي د علایمو او غاړګیو، لاس بندونو  په واسطه را منځ ته کېږي لږ په لوړ مقام کي دئ او هغه تعرف چي د قیاس په سبب را منځ ته کېږي د تعرف ټیټ حد دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تراژيدي څه رنګه بايد جوړه سي

شاعر بايد لومړی د ځان سره داستان مجسم کړي شاعر بايد د داستان د مضمون په ترتيب او د داستان په ليکنه کي ځان داسي وبولي لکه په صحنه کي چي دننه دئ ځکه د دې طريقې په کارولو سره کولای سي ټولي پېښي په وضاحت او تحليل سره مطالعه کي او ګواکي دی د صحني په دننه کي شاهد او ليدونکی دئ او هغه څه چي لازم دي، په تراژيدي کي راوړل سي، راوړي او هغه څه چي د ليکوال د هدف سره مغايرت لري، د هغو د راوړلو څخه ډډه وکړي. د دې خبري د سم والي دليل هغه سوال دئ چي پر کارسينوس سوی دئ ځکه ده ايمپياروس په داسي حال کي مجسم کړی دئ چي دی د معبد د ودانۍ څخه د باندي دئ. دغه کړنه په تراژيدي کي ځکه را منځ ته سوې ده چي ده لومړی داستان د ځان سره نه دئ مجسم کړی که چيري دغه ډرامه پر ستېج و نه ښوول سي کېدای سي چي د ده غربت پټ پاته سي او کله چي دغه ډرامه نندارې ته وړاندي سوه نو د ليدونکو د ناراحتۍ سبب سو او ډرامه د ناکامۍ تر پولي ورسېده.

همداسي د امکان تر حده داستان بايد داسي جوړ سي چي اشخاص او حرکات بايد مخکي د داستان تر جوړولو د خپل ځان سره مجسم کړي. څه رنګه چي د شاعرانو تر منځ هغه څوک چي تکړه، ماهره او پرداستان ليکني کوي قدرتمند بلل کېږي دوی هغه شاعران دي چي په داستان ليکنه کي د عواطفو او هياجاناتو د نفوذ او تاثير واقعي بڼه وړاندي کوي.

لکه څه رنګه چي چا ناهيلي او بدبختي تجربه کړې وي کولای سي چي بدبختي او ناهيلي په ښه ډول سره ځای پر ځای کړي او د چا چي زړه له خشم او قهر ډک وي داستان کي د خشم او قهر پېښي په ښه ډول راوړلی سي نو په دې سبب د شعر فن د هغه چا دپاره ښه وي چي طبعه يې ور سره جوړه وي د عاطفې او هيجان احساس په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان کي ډېر لري نو په لومړني قابلیت سره هر څوک چي غواړي په داستان کي مجسم کړي مجسم کوي او وروسته يې په کلي توګه ځان عواطفو او هيجان ته تسليموي .

**د داستان طرحه**

د داستان موضوع چي شاعر انتخاب کړې ده که هغه موضوع پخوانيو راخستې موضوع وي يا هم شاعر نوې موضوع پيدا کړې وي شاعر ته لازمي ده چي يو کلي تصوېر يي په خپل ذهن کي جوړ کړي او وروسته ورته فرعي پېښي وموښلوي او وضاحت ورکړي.

اوس د مثال په ډول د ايفي ژيني د داستان طرحه ګورو قضيه داسي ده چي د کاهنانو د خبرېدو پرته، چي د يوې جينۍ د قربانۍ امر يې کړی، دغه جنۍ يوه بل ښار ته تښتوي خو په دې ښار کي داسي رواج دئ چي بېګانه خلګ د يوې ښځي خدای لپاره بايد يو نه يو قرباني سي او دغه کار دغي جينۍ ته چي د قربانۍ څه راتښتېدلې ده ور سپارل سوی دئ، نو داسي اتفاق واقع کېږي چي  د دې ښځي ورور دې ښار ته ورځي او د دې ورور ته هاتفي ږغ سوی وي چي دغه ښار ته ولاړ سي که څه هم د ده تګ او د ده سفر زموږ د موضوع سره کومه اړيکه نه لري  کله چي ورور يې دغه ښار ته رسېږي دی نيسي او غواړي چي قرباني يې کي  نو خور خپل ورور  وپېژني دا چي دغه تعرف داسي سوی دئ لکه اروپيډ چي يې په اړه فکر کړی او که داسي دئ لکه پوليديس چي را نقل کړی دئ. په دې حال کي يې ورور فکر کوي چي يواځي يې خور نه وه چي قرباني سوه کېدای سي دی قرباني سوی وای او دغه خبره د دوی د تعرف يا پېژندني سبب کېږي او د ده نجات ته لار پيدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فرعي يا اړخيزي پيښې

کله چې شاعر د شخصيتونو د مونو د ټاکلو څخه خلاص سي نو بيا بايد د فرعي پېښو په ترتيب کار وکي او دغه فرعي پېښې هم بايد يوه مناسبه موضوع ولري لکه د اوروست د ليونتوب چې د ليونتوب نسبت اوروست ته کوي چې يوه فرعي پېښه او دخېل اکټ بلل کېږي او وروسته يې غسل کول او پاکي يې د ليونتوبه د خلاصون سبب گرځي.

### په اوديسه کې فرعي پېښې

په تمثيلي شعرونو کې فرعي پېښې لنډې لنډې وي اما په حماسو کې بيا دغه پېښې پر جزياتو هم راڅرخي او توضيحات يې زيات دي.په اوديسه  کې د کيسې اساسي مضمون کوچنی او لنډ دئ چې اصلي مضمون يې يو سړی دئ چې د خپل ښاره لري په پردي وطن کې پاته سوی دئ، پوزيدون دی تر سخت مقاومت لاندي نېولی دئ او په ټوله مانا يواځې پاته سوی دئ، همدا رنگه کور او مال يې داسې ميراث خورو ته پاته دئ چې آن د ده وښځې ته يې سترگې نيولي او زوی يې د هغوی مزدور سوی. تر ډېرو توپاني حالتونو دی وه وطن ته ور گرځي خپل خپلوان پېژني او پر دوښمنانو حمله کوي هغوی هلاکوي او دی ژوندی پاتېږي. دغه اساسي د کيسې مضمون دئ او پاته نوري ټولي پېښې فرعي پېښې دي.

### غوټه او د غوټې خلاصول په تراژيدي او حماسه کې

د غوټې او خلاصون تعريف يې: په تراژيدي کې يو بل مهم جز غوټه او د غوټې خلاصول دي بعضې پېښې چې د تراژيدي څخه وتلي او بعضې چې د تراژيدي اساسي مضمون دئ غوټه ده او وروسته د دغو پېښو تحليل د غوټو خلاصول دي. موږ د تراژيدي پيل غوټه بللی سو تر داسې وخته چې په پېښه کې تغير راځي يعني د هيرو حال د ښه څه بد يا د بد څه ښه ته تغير کوي د غوټې دوام دئ او د دغه تغير څخه د غوټې د خلاصون

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیل کېږي بیا تر پایه پورې لکه د لنسه په ډرامه کې چې توئد کیت لیکلې ده غوټې د کیسې تر هغه وخته دوام کوي چې تښتول سوی زوی یې بېرته را ګرځي او د غوټو خلاصول د هغه ځایه پیلېږي چې د قتل د اتهام خبره را منځ ته کېږي او د داستان تر پایه پورې دوام کوي چې د داستان آخر هم د غوټې حل بللی سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلور ډوله تراژيدۍ

د تراژيدي مخکينيو څلورو برخو ته په کتو بايد ووايو چي تراژيدي څلور ډولونه لري د دغو څلورو ډولونه څخه يو هغه ډول دئ چي په هغې کي له يوه مخه تغير او پېژندنه را منځ ته سوې. بل ډول يې چي درد پيداکوونکې دی لکه د اژاکس او اکسيون ډرامې. بل ډول يي د هيرو پر خوی او خصلت را څرخي لکه زواني ښځي او پله ډرامې او څلورم ډول ... لکه فورسيدوس او پرومته ډرامې او همداسي هغه ټوله پېښي چي پّه دنيا کي را منځ ته کېږي.

### و شاعرانو ته نصيحت

نو و هر شاعر ته په کار ده چي په ډېرو ډولونو کي بلخصوص بيا په هغه ډولونو کي چي ښه او مهم دي خپل مهارت لوړ او زيات کي خصوصا په دې ورځو کي چي شاعران د سخت انتقاد ميدان گرځېدلي. څه رنگه چي عوامو بېلابيل شعرونه د بېلو شاعرانو کتلي او گوري او د هر شاعر څخه هيله لري چي په هره برخه کي دي پوره او لوړ مهارت ولري او د هغو شاعرانو چي پخواني وه، چي په يو فن کي يې مهارت درلودلئ، د هغو تر کړنو ور تېر سي.

### د غوټي او خلاصون ارزښت يې

د يوې تراژيدي يا داستان شباهت او نېژدې والی د بل داستان يا تراژيدي سره د موضوعاتو په نيژدېوالي سره نه دئ بلکي په دې خاطر دئ چي غوټه او خلاصون يې سره نېژدي دي، که لري بعضي شاعران سته چي هغوی په شعر کي غوټه په خورا ښه انداز سره ځايولی سي خو په خلاصولو کي يې مهارت نه لري بلکي يو ښه شاعر بايد په دواړو کي پوره او ښه مهارت ولري تر څو د ستايني وړ وگرځي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا باید په یاد ولرئ چي  دیوې حماسې د ښو ځخه نه باید یوه تراژیدي یا یوه ډرامه را منځ ته سي بلکي د یوې حماسي ځخه مطلب هغه ټوله پېښي دي چي په یوه حماسه کي را منځ ته سوې وي. مثلا که د الیاد د ټولو پېښو ځخه یوه ډرامه جوړوو نو دا صحي خبره نه ده ځکه چي تراژیدي د خپل تفصیل او پراخۍ په سبب دومره پېښي را اخلي که یې په تراژیدي کي راواخلو نو تراژیدي به تر خپل حد وتلې وي او د دې خبري د ثبوت دپاره باید ووایو چي هغه شاعرانو چي کوښښ یې کړی دئ چي د تروا نړېدل په یوه تراژیدي کي را جمعه کي او د یوروپېډز غوندي یې د داستان هره برخه بېله تراژیدي نه ده جوړه کړې او همداسي هغه شاعران چي دوی د نیوبه داستان په یوه تمثیلي ټوټه کي ښوولی او د ایشل غوندي یې هر جز د داستان نه دئ بېل کړی په عمومي مسابقو کي یا خو ماته خوړلې ده او یا هم په ډېري خوارۍ سره د خپلو عریفانو سره ډغره وهلي. حتی اګاسون هم په یوه ډرامه کي د همدغه سبب په خاطر د ماتي سره مخ سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تغیر او تحول اهمیت

د تحول او تغیر په سبب سره شاعران په عجیب او نادر طرز د خپل هدف و خواته چي د انساني تاثراتو بیداري او د عواطفو را وپښول دي ځان رسوي او دغه هدف هغه وخت ښه تر لاسه کېږي چي په یوه داستان کي چي یو شریر زیرک انسان لکه سیزیف ماته وخري یا یو دلاوره شخص چي ظالم وي مغلوبه سي او دغه حالت هغه وخت نور هم شاعر هدف ته نژدې کوي چي کله دغه تحول لکه چي اګاسون راوستی و حقیقت ته نژدې وي او د دغه مطلب احتمال هغه وخت سته چي دا هر څه د احتمال په سبب را منځ ته سي.

### د اکټرانو کار په تمثیل کي

اکټران باید لکه یو کس د اشخاصو د تراژیدۍ وښول سي چي پر دې اساس د یو کل جزي کېږي نه لکه د یوروپېډز غوندي بلکي د سوفکلز غوندي باید وي چي اکټران به په عمل کي دخیل وي ځکه چي نورو شاعرانو  د سوفوکلز نه پرته فکر کوئ چي د تمثیل کوونکو اوازونه د تراژیدي سره هیڅ اړیکه نه لري  دوی وایي اوازونه د تمثیل په برخه کي د خیل دي او دغه کار لومړی اګاسون وکئ  نو څه فرق دئ که د تمثیل کوونکو اوازونه په تمثیل کي داخل یا یې یوه خطابه وګرځي او یا هم د بلي تراژیدي دپاره دروازه وبلل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لفظ او مانا

د مانا په اړه : اوس چې د تراژيدي د اساسي برخو څخه فارغ سو نو لازمه ده چې د لفظ او مانا په اړه بحث وکو مگر د مانا اړوند بحث د هغو رسالو موضوع ده چې د خطابې يا د وينا په بحث پوري اړوندېږي ځکه دغه بحث د خطابو د بحث سره ډېره اړيکه لري ټول هغه څېزونه چې د لغت او ژبې سره تعلق لري د مانا سره هم اړه پيدا کوي او دغه قسمونه عبارت دي د يو کار اثبات، د يو کار رد کول، د بعضي احوالو ښکاره کول. لکه عاطفه، احساس، شفقت، ترس، قهر او د دې په مثل سره لوی کار کوچنی ښودل او کوچنی کار لوی ښوول.

### شاعر او خطيب

ښکاره خبره ده چې شاعر پېښې داسي را اخلي چې شفقت راپاروونکی، وحشتناک، مهم يا احتمال لرونکی يا حقيقت ښوونکی وښيي چې بايد يو د دغو څخه په خپل شعر کي وښيي، فرق يواځې په دې کي دئ چې په ډرامه کي هر څه داسي راوړل سي چې ليدونکی يې بېله کوم منطق او دليله ومني او د وينا په فن کي بايد خطيب هر څه د منطق او استدلال په مټ په خلگو ومني چې دا نتيجه بايد واخلو چې شاعر هر څه په دومره وضاحت او کمال سره اوډي چې د منطق او استدلال غوښتلو دپاره ځای نه پاته کېږي نو په شعر کي د خطيب پاتي کيدو گټه نه ليدل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لفظ اړوند

او هغه څه چي د لفظ سره اړيکه لري مهمه ده چي واضح او ښکاره سي او دغه مسله د شعر د طرز او د ادا د طريقې څخه عبارت دئ او دا هم د تمثيل کوونکو سره ډېره اړيکه لري او د هغو خلگو سره چي په دې برخه کي تخصص لري، مهمه ده چي يو شاعر پوه سي چي امر څه شی دئ؟ دعا څه شی ده؟ نکل او روايت څه شی دئ؟ تهديد، استفهام، جواب او هغه ټول قسمونه چي اړه ور سره لري که څه هم بعضي نقادان پر شاعرانو دا انتقاد کوي چي دوی دغه امور په ښه ډول سره نه پېژني خو دغه انتقاد پر شاعرانو ځکه نه دئ پر ځای چي دا بايد د تراژيدي تمثيل کوونکي په دې کي مهارت ولري. چي دغه انتقاد پروتاگوراس پر هومر کړی دئ. هغه وايي هومر د دعا او غوښتني پر ځای د امر لفظ استعمال کړی دئ لکه وايي چي اې پرودگاره! د قهر سرود نازل که ... د پروتاگوراس په عقيده د يو چا و يو کار ته تشويقول او يا يې نه تشويقول په امر کي حسابل کيږي، څه رنگه چي دا موضوع د شعر سره ډېره اړېکه نه لري نو پر همدي ځای يې را نغاړم او د نور بحث څخه خود داري کوم.

### د لفظ اجزا

د لفظ اجزا عبارت دي له حرف، سيلاب، حروف ربط، حروف تعريف، اسم، فعل حالت او وينا.

حرف د ژبي کوچنی واحد دئ چي نوره وېشنه نه قبلوي البته په ياد ولرئ هر ږغ چي قابل د انقسام نه وي حرف نه دئ بلکي حرف هغه ږغ دئ چي د هغه څخه مانا او مفهوم منځ ته راځي ځکه حيوانات هم داسي ږغونه کوي چي تقسيم نه قبلوي خو حروف نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حرف ډولونه: حروف به یا اواز لرونکي یا به نیمه اواز لرونکي او یا به ګونګ وي چي اواز لرونکي حروف هغه حروف دي چي چي دوی خپله اوربدل کېدای سي لکه آ او امګا.

نیم اواز لرونکي توري هغه توري دي چي د دوی سره باید بل حرف اضافه سي تر څو واوربدل سي لکه په یوناني کي سیګما او رو، او ګونګ حروف هغه حروف دي چي خپله نه سي اوربدل کېدای نه یواځي نه د بل حرف سره بلکي باید اواز لرونکي حروف دوی ته د اوربدو توان ورکي. د ګونګو حروفو مثال ګاما او دلتا یوناني حروف دي د دې حروفو تفاوت د خولې پر شکل او د مخرج په وتو کي دئ او هم په دې کي توپیر لري چي بعضي یې حلقي او بعضې یې غیر حلقي، بعضي اوږده ویل کېږي. بعضي لنډ، بعضي د تیز او توند ږغ لرونکي دي او بعضي دروند او سخت ږغ او بعضي نور یې متوسط ږغ لري اما دغه موضوعات د هغو رسالو مربوت دي چي د شعر د وزن اړوند بحث کوي.

سیلاب یا مقطع: سیلاب د اواز څه عبارت دئ چي کوم ځانګړې مانا نه لري او د دوو حروفو چي یو یې اواز لرونکئ او بل یې بې ږغه وي جوړېږي لکه د ګر په کلمه کي ګاما او رو سره یو ځای سوې او یوه هجا یاڅپه یا سیلاب یې جوړ کړی دئ چي ګر یواځي او ګرا د الف سره دواړه یوه هجا لري خو د دې دوو تر منځ تفاوت بیا د شعر د اوازنو بحث ته راجع کېږي .

**ربط او تعریف** : رابطه داسي اواز دئ چي پر کومه مانا دلالت نه کوې او نه د دې مانع کېږي چي د متعددو ږغونو څه دي یو ماناداره ږغ جوړ سي او ځای یې په منځ یا په اخیر کي د جملې دئ. که څه هم جمله مستقله جمله وي بیا هم امکان نه لري چي ربط دي په سر کي د جملې راسي یا په بل عبارت ربط ږغ دئ چي کومه مانا نه لري او د څو متعددو ږغونو چي یوه خاصه مانا لري اوازونه یې سم او مانا داره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تعریف توري:** هغه ږغونه دي چي کومه مانا نه لري او د خبرو پر پیل ختم او یا پر تقسیم دلالت کوي یا په بل عبارت دا هغه ږغونه دي چي کومه مانا نه لري او نه هم د ځو ږغونو څخه یو مانداره ږغ جوړوي او نه هم د ځو ږغونه څخه یوه مانا منځ ته راوړي او د تعریف توري د جملې په طرفونو او منځ کي راځي.

**اسم او فعل او تر منځ يې توپير**

اسم هغه مرکب ږغونه دي چي پر یوه خاصه مانا بېله د زمانې د شتونه دلالت کوي او که چیري وویشل سي نو هر جز به يې پر خپله خاصه مانا دلالت ونه کي او مانا به دلاسه ورکي لکه په توئدور کي چي دور ځان ته کومه مانا نه لري فعل هغه مرکب ږغونه دي چي پر یوه خاصه مانا د زمانې په یو ټاکلي وخت کي دلالت کوي او د اسم غوندي که ټوټه سي نو پر مانا به دلالت و نه کي.

حالت چي په اسم یا فعل پوري تړل کېږي پر یوه یا ډېرو دلالت کوي لکه سړی، سړي یا د بیان د طرز سره اړیکه لري لکه: مثلا د استفهام پر ډول یا دامر په ډول لکه ایا هغه ولاړئ؟ او ځه! چي هر یو د دغو څخه د فعل حالتونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## وينا يا قول څه شی دئ

دا د ږغونو هغه ترکيب دئ چي پر يوه خاصه مانا دلالت کوي خو که ټوټه ټوټه سي بيا به هم مانا ورکوي اما داسي نه سو ويلی چي هره وينا به د اسم او فعله جوړه وي بلکي ممکنه ده چي وينا يا ترکيب د فعل پرته را منځ ته سي د دغه سره دا بايد په ياد ولرو چي د ترکيب يا وينا يوه برخه بايد مستقله مانا ولري لکه کلئيون پر لار ځي، چي د کلئيون کلمه پر يوه خاصه مانا دلالت کوي. کله کله په ترکيب کي د دوو اړخونو څخه وحدت را منځ ته کېږي يا د دې حيثه چي دلالت پر يو امر کوي يا د دې وجي څه چي د ترکيب او يو ځای کېدو څخه يې مانا را منځ ته سوې اما هغه ترکيب چي د انسان په تعريف کي راوړل کېږي وحدت پکښي په دې خاطر دئ چي پر يوه شي دلالت کوي .

## د اسم ډولونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسیط اسم او مرکب اسم: د اسم د ډولونو څخه یو بسیط یا ساده نوم دئ دا هغه نوم دئ چي د داسي اجزاوو څخه جوړ سوی یي چي خاصه مانا ونه لري . دویم مرکب نوم دئ دغه نوم به یا د دوو داسي اجزاوو څخه جوړ وي چي یو جز یې مانا ولري او بل جز یې مانا ونه لري او ربط به یې تر منځ نه وي موجود یا به د دوو داسي اجزاوو جوړ وي چي هر جز یې ځان ته مستقله مانا ولري یا د درو برخو جوړ وي یا د څلورو برخو جوړ وي یا د پنځو او یا تر دې هم زیات، چي زیاتره نومونه په مارسیله کي همداسي دي لکه د هر موکایکو کسانتوس نوم، اسم به یا عام وي یا به نادر یا به مجاز وي یا حقیقت یا به لنډ سوی وي یا به اوږد وي یا به سپک سوی یعني حذف پکښي سوی وي یا اوښتی.

د اسم نور قسمونه: د عام نوم څخه مراد هغه نوم دئ چي په یو وخت کي یې موږ او تاسو ټول استعمالوو. نادر نوم هغه دئ چي نور خلګ یې استعمالوي او ممکنه ده چي یو نوم دي هم عام یا شایع وي او هم دي نادر وي خو په یوه سیمه کي نه بلکي په بېلو بېلو سیمو کي نو د سګنون نوم د توري په مانا د قبریسیانو په منځ کي عام او زموږ دپاره نادر دئ او د دورو نوم زموږ په سیمه کي عام دئ او په قبریسیانو کي نادر دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مجاز او د مجاز ډولونه

مجاز که چیري د یو شي نوم و بل شي ته نقل کو مجاز دئ او دغه نقل به یا د جنسه نوعي ته وي یا به د نوعي څخه جنس ته وي یا به د یوې نوعي څه بلي نوعي ته وي یا به نقل د تمثیل په طریقه وي. مثال د نقل د جنسه و نوعي ته دا عبارت دئ چي زما کښتۍ پر دغه ځای ودرېده، چي د کښتۍ درېدل هم د درېدو د نوعي څخه دي او د نوعي څه و جنس ته انتقال لکه دا عبارت: اولوس لسگونه زره کسان لوی کړي دي، چي لسگونه زره پر ډېروالي دلالت کوي او د ډېر کلمې پر ځای کارول سوی دئ. د یوې نوعي څه بلي ته د نوم انتقال لکه دا عبارت چي: اوسپنیز غشي د ژوند رشته قطعه کړه، چي قطعه کول د خلاصیدو او تامېدو په مانا کار ول سوی دئ یا د ژوند د تامېدو په مانا کارول سوی دئ.

نقل د تمثیل په مانا دا دئ چي د څلورو فرض سوو تعبیرونو څخه دویم تعبیر د اول تعبیر سره ښه اړیکه لري یا څلورم تعبیر د دریم تعبیر سره ورته والئ لري، په دغه حالت کي شاعر څلورم تعبیر د دویم تعبیر پر ځای او دویم تعبیر د څلورم تعبیر په کار وړي او کله ښیله دې چي مجازي مانا د حقیقي مانا سره تعلق او اړیکه ولري راوړي.

لکه څه رنگه چي د جام او باکووس او د سپر او ماراس اړیکي دي نو بنا پر دې ممکنه ده چي د سپر څخه په جام او د جام څخه په سپر باکوس تعبیر وسي.

څه رنگه چي ماښام د انسان د سپین ږېري توب سره اړیکه لري امکان لري چي د سپین ږېري توب څخه په ماښام تعبیر وسي او د ماښام څخه په سپین ږېرتیا تعبیر وسي همداسي لکه ابانقلس چي د همدې مضمون څخه د ژوند د لمر د لوېدلو په شکل سره یادونه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کله داسي اتفاق واقع کېږي چي د لمړني لفظ دپاره داسي مناسب لفظ نه وي موجود نو د تمثیل په ډول د دغه مضمون څخه د مفهوم د لېږد دپاره استفاده کېږي لکه دانه په خاوره کي شندل، تخم پاشل بلل کېږي نو د همدې مناسبت په خاطر د لمر وړانګي په مځکه کي خورېدل کله کله د خدایي وړانګو په شندلو تعبیر کېږي. بله لار هم د دا ډول مجاز د استعمال دپاره شتون لري چي د دویم شي نوم د لومړي شي د نامه څخه راووځي لکه سپر لره د مارس جام ونه ویل سي بلکي جام خالي له شرابو وبلل سي.

نوی ایجاد سوی نوم هغه نوم دئ چي شاعر یې په هغه مانا کاروي چي عوام خلګ یې هیڅ کله په هغه مانا نه کاروي چي د همدې قبیلې څخه د لمونځ کوونکو څخه د کاهن مطلب اخستل دي.

اسم امکان سته چي کش سوی وي او امکان لري چي مخفف و اوسي کش سوی یا ممدود اسم هغه اسم دئ چي په اواز لرونکي اوږده حرف سره پای ته رسېدلی وي چي دغه اواز به تر نورو واول اوازونو به اوږد ویل کېږي او مخفف اسم هغه اسم دئ چي یوه برخه یې حذف سوې وي.

اوښتی نوم هغه نوم دئ چي یوه برخه د دې نامه په متداول ډول سره پاته وي او یوه برخه د نامه یې د شاعر یا لیکوال په واسطه تغیر کړی وي.

اسم په خپل ذات کي یا مذکر وي او یا مونث او یا د دې دوو تر منځ وي.

ټول هغه نومونه چي په نو، رو او سیګما سره پای ته رسېدلي وي او یا په هغه حرف سره چي د سیګما ترکیب ور سره سوی وي په یوناني ژبي کي مذکر نومونه بلل کېږي او هغه نومونه چي په اواز لرونکو تورو سره پای ته رسېدلي وي لکه هغه اسمونه چي د اتا یا امګا یا الفا اوږدو اوازونو سره پای ته رسېدلي وي مونث نومونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بله طرفه په يوناني ژبه کي هيڅ داسي نوم وجود نه لري چي په کانسوننټ يا هم په لنډو ږغونو سره پای ته رسېدلي وي يواځي او يواځي درې نومونه شتون لري چي د يوتا په اواز سره پای ته رسېدلي دي ميلي، کومي، پهري او پنځه نومونه يواځي او يواځي اوپيسيلون سره ختم سوې دي.

او هغه نومونه چي په نو او يا سيگما په ږغ پای ته رسېدلي وي هغه نومونه د مذکر او مونث تر منځ نومونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شاعرانو د کلام صفتونه

د شاعرانو د کلام ښېګڼه دا ده چي په وضاحت يا ښکاره والي سره موصوف وي او کلام تر هغو پوري په وضاحت سره نه موصوف کېږي تر څو الفاظ يې داسي الفاظ وي چي د خلګو په منځ کي عام وي مګر په دغه وخت کي بيا الفاظ مبتذل کېږي لکه د کلئفون او استه نولوس په شعر کي چي الفاظ يې مبتذل او د شعر خوند يې د منځه وړی دئ او الفاظ هغه وخت د ابتذال څخه خلاصېږي چي داسي الفاظ پيدا کي چي د عوامو په منځ کي ډېر نه خوله پر خوله کېږي او د دې څخه مي مراد دا دئ چي په عوامو کي به خوله پر خوله نه کېږي او که داسي الفاظ وي چي د عوامو پر خوله مبتذل وي نو دا د شعر ابتذال را منځ ته کوي.

نو بنا که چيري کلام له مجازه څخه ډک سي نو پر شعر معما ښکاره کېږي او که د عجيبو کليمو څخه ترکيب سي نو بيا پر شعر باندي ګونګوالی غلبه کوي البته د معما مفهوم دا دئ چي داسي الفاظ سره ووډل سي چي يو د بل سره کومه اړيکه ونه لري او د دې سره سره يو صحيح مفهوم ولېږدوي او دغه حالت له داسي الفاظو څخه چي حقيقي مانا ولري نه را منځ ته کېږي بلکي د مجاز په زور سره د معما څخه ډک کلام را منځ ته کولای سو، لکه دا کلام چي يو څوک مي وليدئ چي اور پر تن يې د چا په مخ کي سترګي ګنډلي وې يا نوري معماوي او که په کلام کي داسي الفاظ ډېر سي چي هغوی نادر او د خلګو د استعماله لري وي نو بيا به کلام ګونګ او د فهمه لري سي.

پورته خبرو ته په کتو سره کلام بايد دواړه ډولو لفظونو څخه مخلوط سي ځکه په نادرو الفاظو به مو د ابتذال مخه نيولې وي او تر څنګ يې په مجاز او نورو ښکلاګانو سره چي په کلام کي استعمالوو کلام به د وضاحت اړخ ته ورسوو او تر څنګ يې لږ څه متداول الفاظ بايد استعمال کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې دپاره چي خبره مو نوې د ابتذاله خالي روښانه، د وضاحت ډکه سي مهمه وسیله پکښې اوږدوالی لنډوالی او تغیر دئ ځکه که چیري موږ هغه الفاظ چي د عوامو خلګو په خوله کي رواج دي نه کړو استعمال نو زموږ کلام به د ابتذال څخه خالي وي او که چیري همدغه متداول الفاظ استعمال کړو نو بیا کلام واضح کېږي نو هغه نقادان چي شاعران یې د همدې الفاظو په خاطر نقد کړي دي او تمسخر یې په کړی دئ خطا سوې دي.

لکه څه رنګه چي پخوانی اقلیدوس خطا وتلی دئ او ویلي یې دي چي شعر ویل د هغو خلګو لپاره چي کلمات څه ډول یې زړه غواړي اوږدولای سي اسانه کار دئ او دغه د اقلیدوس خبره چي د کلماتو اوږدول دي مسخره سوې ده لکه چي وایي:

ومي لیدئ چي اپیخاروس د ماراتون پر خوا روان دئ.

چي په اصل کي دغه دوه یوناني کش سوې توري دي او یا د دې شعر غوندي:

دی د الیبور سره مینه لري.

چي په اصل کي دا هم دوو تورو ته اوږدوالئ ورکول سوی دئ په هر حال په هره برخه کي افراط د دې سبب کېږي چي د خلګو د خندا سبب سو نو باید د کلام په ټولو اجزاوو کي تناسب مراعات کړو ځکه که چیري تر اندازې زیات مجز په کلام کي وکاروو . د دې څه به داسي کلام منځ ته راوړو چي د خلګو د خندا سبب سي. د افراطي استعمال او معتدل استعمال تر منځ باید داسي توپیر وکو چي په حماسي شعرونو کي باید عام او متداول الفاظ استعمال کړو  او همداسي د نادرو الفاظو او مجازونو پر ځای باید عام او واضح الفاظ وکاروو تر څو زموږ د حماسې رېښتینولي مالومه سي  لکه اشیل او یوروپېډ دواړو یوه حماسه شعر کړې ده مګر یوروپیډ یو نوم به دې حماسه کي تغیر کړی دئ په داسي شکل چي د نادر نوم پر ځای یې یو عام نوم استعمال کړی دئ نو ځکه د دغو دوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حماسو ځخه یوه ښه په نظر راځي او هغه بله يې متوسطه بلل کېږي، اشیل په پیلوکتت حماسه کي يو ځای وايي:

داسي ټپونه دي چي زما د پښو غوښي يې را ځخه وخوړې.

چي اشیل د خوړلو د کلمې پر ځای بله کلمه استعمالوي چي همدا مانا لېږدوي او داسي يې لیکلي زما د پښو د غوښو ځخه يې ځان ته میلمستیا کول همداسي چي شاعر په دې بیت کي داسي وايي:

او اوس دی خوار او ضعیف او بېچاره دئ.

داسي وویل سي :

اوس دی بې زوره عاجز او ناتوانه دئ.

همداسي دا بیت :

کله چي حقیر سترخوان راسي او هوار سي.

که پر ځای يې داسي وویل سي:

چي کله کوچنی سترخوان او لږ خوراک راوړل سي.

او همداسي که د دې الفاظو پر ځای چي ساحل غریدئ عام الفاظ چي ساحل اواز کوئ وکارول سي ښه به وي.

آریفرادیس په خپلو کمیډیو کي تراژیدي لیکونکي مسخره کړي دي چي دوی په خپلو تراژیدیو کي داسي الفاظ استعمال کړي دي چي نه يې ځوک کاروي او نه ځوک په پوهېږي مثلا دوی وايي د کوره لري یا وايي تا لره مي وبخښل او داسي نه وايي تاته مي بخښنه وکړه او نور هم همداسي کلمات لري چي عام کلمات يې قصدا د عوامو د ژبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه ښېل کړي دي او دوی دا فکر کوي چي دغه الفاظ د دوی حماسې د ابتذال څخه باسي او د تراژیدي د ناکامۍ مخه نیسي مګر دغه ټکی د آریفرادیس څخه پټ پاته سوی دئ.

دغه نکته باید په یاد ولرو چي دغه الفاظ چي مرکب الفاظ دي یا هم غریب او نادر الفاظ دي داسي په کار واچول سي چي ښایست پیدا کړي مګر تر دې مهمه لا د شاعر مهارت دئ د مجاز په استعمال کي، ځکه دا داسي کړنه ده چي شاعر یې د نورو څخه زده کوي بلکي د طبیعت څخه یې هم زده کړه کوي ځکه پر مجاز قدرت د شیانو د مثالونو د پیدا کولو قدرت او وړتیا ده.

مرکب نومونه د دیتیرامبي شعرونو دپاره مناسب دي او نادر نومونه د رزمي شعرونو دپاره باید وکارول سي او مجاز بیا په ایامبي شعرونو کي وکارول سي. د دې تر څنګ په رزمي شعرونو کي امکان سته چي هر ډول نومونه پر کار واچول سي مګر په ایامبي شعرونو کي چي د امکان تر حده پکښي عام فهمه ژبه کارول کېږي او تقلید یې اساسي برخه ده نو باید داسي ژبه پکښي وکارول سي چي هغه ژبه د عوامو ژبي ته ورته او نژدې وي، په دې مانا چي په دا ډول شعرونو کي باید معمولي نومونه د کلام د ښایستونو او مجاز سره استعمال سي.

کوم څه چي مو د تراژیدي په اړه دلته ووېل بسنه کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په حماسي شعر کي د کردار يووالی

## د کړني يووالی په حماسه کي:

په هغه ډول شعرونو کي چي د تقليد او کيسي کولو پر طريقه يوه کيسه بيانوي واجب ده چي د تراژيدي غوندي د کيسي مضمون داسي وليکل سي چي تمثيلي اړخ ولري چي يواځي يو کردار او اکټ په کامل او پوره توګه تمثيل کوي او د پيل، منځ او پای لرونکی وي، تر څو يو داسي ژوندی حالت تمثيل کړي چي يو خاص خوند انسان ته حاصل کړي البته دا بايد واضح کړو چي په کيسه کي اجزا او عناصر د تاريخ غوندي نه يي چي د اکټ يووالی ونه لري او يواځي د زمانې پر يووالي متمرکز وي په دې مانا چي په تاريخ کي په يوه وخت کي يو سړي ته ټول پيښېدونکي پيښي ويل کېږي او دغه پيښي يو د بل سره تصادفي نه مبنلي، همدا رنګه د سالامين درياب جنګ او د قرطاجينې جنګ د باسيسل سره په يوه وخت او زمان کي پيښ سوی دئ، خو د دواړو غرض يو نه دئ همداسي ډېري داسي پيښي دي چي يو د بل سره اړيکي نه لري خو شاعرانو دغه پيښي يو د بل سره په اشتباه تړلي دي.

## د اکټ يوالی

لکه څه ډول چي مي مخکي مو وويل چي هومر د نورو شاعرانو په منځ کي اعلا او لوړ مقام لري څه ډول چي ده نه غوښتل چي د جنګ ټوله کيسه چي د تروارا کيسه ده په خپله يوه منظومه کي وکړي د دې تر څنګ يې خپل داستان ته پيل او پای ورکړی دئ، په  داسي حال کي که دی د ټول جنګ کيسه کوي نو داستان تر حد زيات اوږدېږي نو په داسي حال کي کيسه په فکر کي راټولول او د هغې ادراک ستونزمن کېدئ سي، که بيا هم داستان ته اندازه ټاکي نو د پيښو د کثرت په خاطر په کيسه کي پېچدګي را منځ ته کېږي نو په دې سبب هومر د تروا د جنګ يوه برخه د خپل منظومې لپاره د داستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوع ټاکلې ده او نوري زياتي پېښي يې د خپل داستان د فرعي او دخيلو پېښو په تور راوړي دي لکه د بعضي مرګونو فهرست چي يې په خپل داستان کي ذکر کړی دئ.

مګر نورو شاعرانو خپلي منظومې د يوه قهرمان په اړه يا د يوه وخت په اړه يا د يوې واقعې په اړه جوړي کړي دي خو دغه ټولي کيسې له ځو برخو څخه مرکبي دي لکه د قبرس سرودونه، پخوانی الياد چي د دې هر يوه څخه يوه يا دوې تراژيدۍ جوړول يوه سخته او بې خونده پرېکړه ده، ځکه که د پخوانی الياد راواخلو حد قل بايد ترې اته تراژيدۍ جوړي سي لکه مسلح پوج، فيليوکتت، نئوپټوله، اوريفيل، د اوليس سوالګر، د لاسه دموني لوښي ، د تروا چور، د کښتۍ قصد، سينون او د تروا ښځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حماسي شعر او د هومر صفت

## د حماسې اجزا او ډولونه يې:

د بله اړخه د حماسې ډولونه هم د هماغه تراژيدي غوندي ډولونه دي، حماسه هم يا بسيطه وي يا مرکبه همداسي ممکنه ده حماسه ممکنه ده په اخلاقو او خويونو پسي مربوط وي او يا غمجني پېښي بيان کي. د حماسې او تراژيدۍ ټول اجزا يو ډول دي يواځي او يواځي توپير يې اواز، منظره او نمايش کي دئ حماسه هم لکه تراژيدي اوډون او پېژندګلوئ ته اړتيا لري او همداسي د دردوونکو پېښو درلودونکې ده فکر او وينا يې بايد ښه وي.

دغه ټول امور او اجزا د لومړي ځل لپاره هومر مراعات او په ښه ډول استعمال کړې دي د هغو دوو منظومو څخه چي هومر ليکلي دي چي يوه يې الياد ده چي يوه بسيطه حماسه ده او د دردوونکو پېښو ډکه ده او بله يې اوډېسه حماسه ده چي يوه مرکبه حماسه يې بللی سو چي د تعر ف برخه پکښي ډېره ده او د خلګو د خوی او سيرت سره اړيکه لري د دې تر اخوا هومر د فکر او وينا له مخي تر ټولو شاعرانو لوړ او ممتاز دئ.

## د حماسې اوږدوالی:

حماسې د تراژيدي سره د وزن او کيسې په اوږوالي کي توپير او فرق لري. د کيسې د اوږوالي په اړه چي مو مخکي څه ويلي دي بسنه کوي چي بايد پيل او پای يې په يو ځل ادراک کي ځای سي او ممکنه ده چي اوسنۍ حماسی تر مخکنيو حماسو کوچنۍ و اوسي او د تراژيديو غوندي بايد په يو مجلس کي وويل سي او خلاصي سي.

حماسي شعر بايد ځانګړی خوند ولري چي د خپل اوږدوالي سره سره بايد ولوستل سي موږ په تراژيدي کي د داستان ټول اړخونه او ټولي پېښي نه سو بيانولی بلکي يواځي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښې چې د ستېج پر سر ننداره کېږي راوړل کېږي او د فرعي پېښو يوازې ذکر کېږي خو په حماسه کې چې ساحه يې تر تراژيدي لويه ده کولای سو ډېرې پېښې او آن فرعي پېښې تحليل کړو او دغه پېښې که د اصلي داستان سره اړيکه ولري نو د تراژيدي وضاحت او اوږدوالئ راولي، په داسي ډول چې هم ويونکي ته خوند ورکوي او هم د ليکوال د شعر ليکلو ارزښت زياتوي او هم تنوع او نوی والی رامنځ ته کوي چې داسي پېښې پکښې را منځ ته کېږي چې يو د بل سره ورته والئ نه لري ځکه هغه څه چې تراژيدي د نظره غورځوي هغه د مشابه پېښو تکرار دئ.

د حماسې لپاره تر نورو اوزانو ښه وزن رزمي وزن دئ مگر څوک چې د داستان د بيان دپاره د رزمي وزن څخه بل وزن او يا مختلف وزنونه راوړي دا يو ښکاره بده کړنه ده.

څه رنگه چې رزمي وزن تر نورو اوزانو پراخ او د بېلو بېلو مجازونو د ځای پر ځای کېدو وزن دئ او د نوې او نادرو کلماتو ځای پر ځای کېده هم ښه پکښې کېږي په همدې خاطر د کيسې د بيان دپاره دغه وزن تر نورو اوزانو غوره او ښه وزن بللی سو.

ايامبي وزن او رباعي وزن داسي وزنونه دي چې د حرکاتو څخه ډک دي چې يو د نڅا دپاره او بل د اکټ او حرکت دپاره مناسب دي خو د دوی دواړو گډ وزن چې دا کار کرمون شاعر کړی دئ نادر او عبث کار دئ . د همدې سببه هيڅ شاعر داستان د رزمي وزنه پرته په بل وزن کې نه دئ ليکلی نو ويلای سو چې همدا طبيعت دئ چې موږ ته د اوزانو انتخاب راکړی دئ او موږ ته يې لارښوونه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هومر نه مداخله په داستان کي

د نورو صفتونو او بالاترۍ تر څنگ د هومر یو صفت دا هم دئ  چي ده هغه حدود پېژندلي چي یو شاعر په داستان او کیسه کي څومره مداخله کولای سي. په حقیقت کي شاعر باید په داستان کي د ځانه څخه ډېر کم څه ووایي ځکه که دی په خپلو خبرو کي ورک سي اصلي مقصد چي محاکات او تقلید دئ ور څخه پاتېږي.

نور شاعران کم وخت په کیسه کولو کي تېروي او زیات وخت خپل ځان او خپلو خبرو ته ورکوي مگر هومر په خپلو منظومو کي تر لنډي مقدمې وروسته څه رنگه چي یو کس یا شخص صحنې ته کښته کوې د هغه په خوی، خصلت او صفت ځان مصروفوي په دې مانا چي په داستان کي داسي شخص نسته چي بیان یې د خوی او خصلت نه وې سوی.

### عجیبي او خارق العاده پېښي

په تراژیدي کي باید عجیبي او خارق العاده پېښي حتما را منځ ته سي اما په حماسې کي آن د یو غیر معقولي پېښي څخه هم شاعر تېرېږی ځکه   په حماسه کي د خارق العاده پېښو دپآره دومره وخت نه وي ځکه شاعر د عمل او حرکت تر منځ مصروف وي، د مثال په ډول کله چي یونانیان د هکتور تعقیب پرېږدي او بې حرکته درېږي او د بله طرفه اشیل یواځي یوه د سر اشاري ته منتظر دئ، که دغه پېښي په حماسې کي لیکل کېږي نو د خلگو د خندا سبب به سي. خارق العاده پېښي د خوند او لذت د زیات والي سبب کېږي او د دې خبري د ثبوت دلیل دا دئ چي شاعران په کیسو کي د خپله ځانه څخه د خارقه العاده پېښو  زیات والی کوي تر څو د خوند او لذته کیسه مالامال کي.

### دروغجن قیاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسي هومر نورو شاعرانو ته دا ښوولې ده چي څه ډول د واقيعت څخه خلاف پېښي په کيسه کي څه رنګه ځای پر ځای کړي او دغه کار د دروغجن قياس په زور سره کوي او خلګ دا فکر کوي چي مثلا که دې پېښي وجود درلود نو د دې بلي پېښي وجود خو حتما واقعي دئ يا يوه پېښه را منځ ته کوي او ور پسي بله پېښه په وجود راوړي نو په دې صورت کي که لومړۍ پېښه حقيقت ولري نو دويمه حتما حقيقي ده يا به حقيقت پيدا کړي خو په حقيقت کي دغه فکر خطا وي ځکه لومړۍ پېښه د واقيعت څخه ښېله او پردۍ وي، يوه بله خبره که لومړۍ پېښه يوه واقعي پېښه وي نو بيا خو يې وجود حتمي دئ.

**معقول او محتمل يا پېښېدونکی**

په کيسه کي هغه کړنه چي را منځ ته کېده يې سخت او محال وي خو ممکن وي خو د پېښېدو احتمال يې وي تر هغو پېښو چي ممکني وي او پېښېده يې اسانه وي ښه  او غوره دي او مضامين بايد د داسي مختلفو او کوچنيو پېښو  څخه جوړ وي چي معقولي وي او نه بايد داسي پېښي وي چي هغه نا معقولي وي او که نا معقولي ښېښي وي هغه بايد په نمايش کي وي او د کيسې څخه جلا وي لکه د اديپوس په نمايش نامه کي چي اديپوس نه دئ خبر چي لايوس څه رنګه مړ سو،  مګر يو غير معقوله پېښه بايد کيسه کي را نه سي لکه په الکترا کي چي خلګ د پيتک د بازيو څخه بحث کوي. که څه هم بعضي نا معقولي پېښي داسي دي چي ښېله هغه پېښو داستان بې خونده او بې رونقه کېږي او هم داسي د خندا سبب کېږي. نو بايد په لومړي سر کي د داسي نا معقوله پېښو مخ نيوی وسي ان که شاعر دا وړتيا در لودله چي يو غير معقوله پېښه د حقيقت په يوه داسي سايه کي پټه کړي چي لوستونکی تېر باسي نو بيا د ليکوال حق دئ چي دغه غير معقوله پېښه په خپل هنري اثر کي ځای پر ځای کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که وګورو په اودېسه کې اولیس د ایاک په ساحل کې بیاده کېږي که څه هم یوه غیر معقوله پېښه ده که دغه پېښه یوه بل شاعر راخستې وای نو هیڅ خوند به نه وای پکښې، خو شاعر په خپل کمال سره دغه پېښې داسې سره اوډلي چې غیر معقول توب یې د ذهن پر پرده نه راځي او نا معقول توب یې ور پټ کړی دئ.

### د کلام اړوند

وینا : که چرته پکښې ښکلاوي په کار یووړل سي نو دغه برخي به د کردار او اکټ برخه نه وي بلکي په داسې برخه کي به وي چي هغه سیرت او اخلاقو ته ځانګړې سوې وي ځکه هغه کلام چي ډېر متصنع سي نو بیا د پېښو نظارې ته نه جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د بعضي شبهو او سوالونو رفعه

د شاعرانو نقد: د بعضي هغو مواردو څخه چې بحث او مناقشه پکښې کېږي او د دغو مناقشاتو دفعه او څه نا څه ملاحظات چې په همدې برخه کي دي داسي توضيح کوو: هر کله چې د شاعر کار تقليد او محاکات او کېسه کول دي لکه نقاش او بل صنعت گر چې کار يې صورت جوړونه ده، د ضرورت پر اساس په تقليد او کېسه کونه کي بايد يو د دغو درو طريقو څخه په کار يوسي په دې مانا چې شيان څه ډول دي بايد هماغسي يې و ښيي يا هم څه ډول چې يې خلگ غواړي چې و اوسي هماغسي يې وښيي يا يې څه ډول چې بايد و اوسي هماغسي يې وښيي له بله طرفه دا چې شاعر کېسه د الفاظو په اوډلو سره بيانوي نو د شاعر کلام بايد د داسي مجازونو او داسي تغير او تصرف په الفاظو کي وکي او ور څخه ډک وي کوم چې د شاعر دپاره روا دي.

دا نکته هم بايد ور اضافه سي چې ارزښتونه، معيار او سنجس په شعر، سياست او نورو فنونو کي يو نه دي. په شعر کي هغه خطا چې امکان يې د را منځ ته کيدا سته، دوه ډوله ده. يوه هغه تېروتنه چې په شعر کي د فن سره اړه لري او بله هغه تېروتنه ده چې د شعر د طبعي برخي سره تعلق لري. کله چې يو شاعر غواړي چې يوه کېسه شعر په ښه ډول يې بيان کي خو نه سي کولای، نو دغه تېروتنه د فن سره تعلق لري او که چېري شاعر په خپله کيسه کي داسي پېښي بيانوې چې هغه د طبيعت سره په ټکر کي وي. مثلا اس خپلې دواړي پښې لوړي کړي دي او يا داسي پېښه وي چې پېښېدل يې نا ممکنه وي په دې صورت کي تېروتنه د شعر د فن سره کومه اړيکه نه لري نو د شعر د نقد کولو دپاره لازمه ده چې لاندي نکات په نظر کي ولرو:

**د مجاز او غير مجاز تېروتنه:** لمړی غواړم د هغو تېروتنو اړوند خپل بحث وکم چې د شعر د صنعت او فن سره اړيکه لري البته که شاعر په خپل شعر کي داسي پېښي چې پېښېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ناممکنه وي راوړي دا خطا ده مګر که شاعر چې دغه تېروتنه د يو مالوم غرض او مقصد په موخه تر سره کړي نو کېدای سي چې شاعر دي په دې کي کامیابه سي او په خپل شعر کي دي جالب والی را منځ ته کړي، چې مثال يې د هکتور د تعقيب د اشيل له خوانه قضيه ده خو که د شاعر دغه مقصد په يو داسي ډول سره چې هغه پېښه دي ناممکنه نه وي تر سره کېدای سي او دی بیا هم په خپل شعر کي نا ممکنه پېښي ځای پر ځای کي نو د شاعر دغه خطا د بخښلو نه ده ځکه په هر حال کي چې د خطا څخه د ځان ساتني ګونجایش وي باید خطا تر سره نه سي.

که تر دې را تېر سو نو لمړی باید پر دې غور وکو چې شاعر چي کومه خطا تر سره کړې، کوم ډول خطا ده؟ د شعر د فن سره اړيکه لري؟ یا هم د طبیعت سره اړيکه لري؟ او که چيري پر شاعر دا انتقاد کېږي چې ولي شاعر هغه پېښي تمثیل کړي دي چې په طبیعت کي نسته نو ممکنه ده چې شاعر يې په جواب کي ووايي چې پېښي يې داسي تمثیل کړې دي چې طبیعت باید هغه سي ووسي لکه دا خبره چې سوفوکليز کړې ده چې ما انسانان داسي ترسيم کړي دي چې انسانيت څه ډول باید واوسي. په داسي حال کي چي یوروپيډ بيا انسانان داسي ترسيم کړې دي چې په واقع کي څه ډول دي.

همداسي د پورته پوښتني جواب داسي هم کېدای سي چې دغه غير ممکنه پېښي د عوامو په منځ کي همداسي لاس پر لاس سوې او رواج دي چې څه ډول شاعر ليکلي دي لکه د هغو خدايانو د کیسو اړوند چې په ټولنه کي رواج او عامي دي بلکي شاعر هماغه خبري هماغه سي راخستي دي څه ډول چې يې خلګ کوي. د کسنوفان په خبره چې زياتي پېښي باید داسي وويل سي څه ډول چې په عوامو کي د پخوا راهسي عامي دي. لکه څه ډول چې د لشګرياني د خوب اړوند ويل کېږي چې نوموړی بېده وو اونيزې يې داسي ښخي کړي وي چې د نېزو سرونه د اسمان خواته وه او دغه کړنه په هغه وخت کي رواج وه چې اوس هم په ايليريانو کي دغه رواج سته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداسي باید دا په یاد ولرو چي د کم چا کردار او وینا ښه ده یا بده پر دې باید بسنه ونه کړو بلکي دا تحقیق وکړو چي دغه کړنه په خپل ذات کي څه ډول ده؟ ښه ده او که بده ده؟ عالي ده یا ټېټه ده؟ بلکي هغه سړی چي دغه کردار ترې منځ ته راځي باید په نظر کي و نیسو چي دا کردار یا وینا چاته متوجه ده او د چا په خاطر ده او دغه وینا یې د څه لپاره کړې ده ایا د ځانه یو لوی خطر دفعه کوي یا هم ځان ته ګټه لاس ته راوړي.

**د ځینو سوالونو دفعه:** د ځینو سوالونو په دفعه کي کولای سو داسي جواب ووایو چي شاعر دلته د مجاز څخه کار اخستی دئ لکه د شاعر په دې خبره کي چي ټول خدایان دلاوره بیده وه او خپله شاعر بل ځای وایي کله چي ده  د تروا دښت ته نظر وکئ د نل اواز په شور راغلئ نو جواب یې داسي کولای سو چي شاعر د زیات پر ځای مجازا ټول استعمال کړي دي ځکه د ټول مانا کثرت دئ او داسي یې سوال جوابولی سو چي دلته شاعر له مجازه څخه کار اخستی دئ.

همداسي کولای سو  چي ووایو چي شاعر د الفاظو او کلماتو د تغیر څخه استفاده کړې ده لکه پر هیپاس چي په دې شعر کي انتقاد کېږي، باید دوی ته خوښي ورکړو او پر دې شعر یې انتقاد کېږي یوه برخه د هغه څخه باران ګټمنه کړې وه. چي په همدې ډول یې د دغو سوالونو جواب سوی دئ بعضي سوالونو  د فصل او وصل او وقفې سره جوابولی سو چي د یوې کلمې دپاره په دوو ماناګانو قایل سو بعضي سوالونه د لغت د استعمال په طریقه سره جوابولی سو همداسي که یوه کلمه په یوه شعر کي سخته وي نو باید تحقیق وسي چي دغه کلمه په کومو ماناګانو سره څه ډول استعمالېږي. کله کله شاعر کوم ناممکنه کار په خپله کیسه کي بیانوي چي دغرض او شعر سره مناسبت ولري یا په دې خاطر چي دغه ناممکنه کار د عوامو د عقایدو سره سر خوري او دا باید په یاد ولرو چي هغه ناممکن چي د خلګوورباندي باور وي تر هغي ممکني پېښي چي خلګ ورته عقیده نه لري ښه او غوره دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلي ناممکنه ده چي داسي اشخاص دي وجود ولري څه رنګه چي زيوکسس تصوير کړي دي ځکه زيوکسس اشخاص داسي تصوير کړي دي چي يا تر هغه لوړ دي چي په واقع کي دي يا تر هغه زيات ټيټ دي چي په واقع کي دي، خو د عوامو فکر زيات وخت هغه څېزونه چي ناممکن او نامعقول دي داسي ښيي چي دا کړني ناممکنه نه دي بلکي دوی باور لري چي دا ټولي کړني ممکني دي.

**ټکر پېښي او نامعقولي پېښي**: کله چي په کيسه کي پېښي په ټکر کي واقع کېږي بايد داسي استدلال موجود وي چي دغه پېښي چي د دوی تر منځ ټکر واقع کېږي وحدت او يووالی پيدا کړي او بايد پر يوه موضوع را و څرخي او شاعر بايد يو جهت د دواړو پېښو دپاره په نظر کي ولري او بايد دا تحقيق وسي چي ايا شاعر د خپلي خبري خلاف خبره کړې ده يا يې داسي دعوه کړې ده چي هر هوښيار سړی د هغه خلاف حکم کوي.

لکه مخکي چي مو وويل شاعر بايد بېله ضرورته په خپل شعر کي داسي نا معقوله پېښي را نه وړي چي انساني فکر يې منلو ته تيار نه وي.

**لنډيز د خبرو دا دئ چي هغه سوالونه چي پر شاعر کېږي پنځه دي:**

هغه خبري چي شاعر يې کوي او هغه پېښي چي شاعر يې په کيسه کي راوړي ناممکنه دي او که سختي يا د اخلاقو خلاف دي او يا په ټکر کي دي ايا د شعر د صنعت سره سر خوري يا نه او دغو پوښتنو ته بايد د هغه اوصولو په رڼا کي چي مخکي ذکر سول، جواب وويل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د تراژيدي برتري پر حماسي

دا چي موږ د تراژيدي او حماسې بحث خلاص کړ نو حتمي ذهن کي پوښتنه راځي چي کوم يو برتره او بهتره دئ؟ په حقيقت کي هغه تقليد ښه دئ چي په هغه کي ابتذال او کليشه توب کم وي. نو په دې صورت کي هغه تقليد چي ټول شيان په بر کي نيسي د کليشه توب ښکار کېږي  لکه څه رنګه چي اکټران کوښښ کوي چي د شاعر پر خبرو يو څه اضافه توب وکي ځکه که چيري اضافه توب ونه کي کېداى سي د دوى حرکات د ليدونکو د خوښي وړ ونه ګرځي او په دسي وخت کي دوى ډېر حرکتونه تر سره کوي خو دغه اکټران د ښځو د نل ږغولو سره ورته دي چي غواړي  د فلزي اسمان د راغورځېدلو تقليد کوي او پر خپل ځان سره را سرخي نو بنا پر پورته وينا تراژيدي دا عيب لري چي مخکيني اکټران پر خپل شاوخوا نيسي. لکه  د مونيکوس دپاره د کاليپيديس د افراط په سبب د بختور لقب وکارول سو چي دغه لقب يې د پندار په حق کي هم کارولی دئ څه رنګه چي حماسه د يوې ممتازي ډلي دپاره ويل کېږي او حرکاتو او زړو تمثيل کوونکو ته اړتيا نه لري او تراژيدي بيا د عامو خلګو دپاره د کليشه سوو اکټرانو دخوا وړاندي کېږي نو داسي انګېرل کېږي چي حماسه پر تراژيدي لوړوالئ او برتري لري.

خو په اصل کي دغه ستونزه د تراژيدي نه ده بلکي دا ستونزه د هغه تمثيل کوونکو ده چي په تراژيدي کي مصنوعي حرکات تر سره کوي چي دا په حماسه ويونکو کي هم تر سره کيږي چي کله کله مصنوعي حرکات په حماسه کي ځايوي.

دا هم نه سو ويلی چي هر ډول حرکت بد نه دئ لکه رقص بلکي هغه حرکتونه چي ټيټ اکټران يې تر سره کوي بد دي چي دغه سوال پر کاليپيدس هم وو چي دی د پستو ښځو حرکتونه تقليد او تمثيل کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر دې سربېره چې تراژيدي د حرکاتو سره يو ځای تر سره کېږي په خپل ذات کي د حماسې غوندي يوه کيسه ده چې ببله تمثيله او حرکاتو هم خوند ور ښخه اخستل کېدای سي چې دا د تراژيدي ارزښت ښکاره کوي يواځې دا نه ده بلکي د ځو نورو اړخونو د مخي هم تراژيدي پر حماسې برتري لري چې و وضاحت ته اړتيا نه لري، ځکه چې تراژيدي د حماسې ټول اړخونه په بغل کي اخلي آن کېدای سي چې د حماسې په وزن کي هم وويل سي تر دغو خبرو اضافه تراژيدي د نورو ښېګنو ښخه هم خالي نه ده. د موسيقي او د مجلس ښکلا هم لري چې دا خپله د خوند د پيدا کېدو لاملونه دي يوه بله ښېګنه چې تراژيدي يې لري تفصيل او د پېښو وضاحت دئ که وويل سي او نمايش سي.

تراژيدي خپل مقصد په روښانه ډول سره وړاندي کولای سي ځکه خلګ هغه کيسه چې لنډه او واضح وي تر هغي کيسې چې پاشلې او ګونګه وي زياته خوښوي په تراژيدي کي تر حماسې د پېښو وحدت زيات تر سترګو کېږي چې دليل يې دا دئ چې هره حماسه کېدای سي ځو تراژيدۍ سي که په ټوله حماسه کي يوه کيسه تعقيب سي نو يا به د لنډون په خاطر حماسه بې خونده وي يا به د ډېر تفصيل په خاطر پاشلې او بې لذته وي.

مګر دلته زموږ خبري د هغي حماسې اړوند دي چې فرعي پېښې ولري لکه الياد چې ځو برخي لري يا اوډېسه چې ډېر اجزا لري چې هره برخه بيا په خپل ځان کي امتداد او اوږدوالی لري دا په دې مانا نه دئ چې دا هره برخه دي ټوله د يوې بلي ښخه جوړه وي بلکي ټولي برخي بيا د اساسي کيسې پر شاوخوا راګرځي.

نتيجه: نو که تراژيدي پر حماسه لوړه او ښه بولو نو بايد تراژيدي د هغه ټولو خصوصياتو لرونکې وي چې موږ يې مخکي په اړه بحث وکئ او هغه تاثير ولري چې په تراژيدي کي پروت دئ نو وايو که تراژيدي خپل خاص هدف او غرض لاس ته راوړي نو پر حماسه بالا او ښه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس مو د تراژيدي او حماسې د دوی د ماهيت، د دوی د اجزاوو د دوی د توپيرونو د دوی د بريا او نه بريا سببونه او أن هغه سوالونه چي پر شاعرانو کېږي او د هغوی جوابونه خلاصه کړل او کوم څه چي مو وويل په دې برخه کي بسنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پای

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library